دلمرپل

Download from:aghalibrary.com

عارف تبسّم

د کتاب ټول حقوق د شاعر په حق کي محفوظ دي

د کتاب پېژندنه
کتاب ---------------------- دلمرپل
شاعر ---------------------- عارف تبسّم
ټائټل ---------------------- حفصه تمثیل
کمپوزنګ ---------------------- عارف تبسّم
کمپوزنګ مرسته ---------- بارکوال میاخېل
لمرکمپوزکورکوټه
شمېر ---------------------- ۵۰۰ ټوکه
چاپ کال ---------------------- ۲۰۰۶ء
د چاپ ځای ---------------------- قلات پرېس کوټه
بیه ---------------------- ۱۵۰ روپۍ

دموندلودرک
۱- صحاف نشراتي موسسه کاسي روډ کوټه
۲- دانش خپرندویه ټولنه قصه خوانۍ پېښور
۳- خوشحال بک لېنډ تحصیل روډ بورے لورالائي

خورۏنکي

پښتو ادبي ملګري ،بورے لورالائي

سهېلي پښتونخوا

ترون

دهغه تيارو په نوم

چې مادرڼا په لټون ګرځوي

بسم اللّه الرحمن الرحیم

لړۍ

شمېر لیک مخ

١. دعارف تبسم رڼا رڼا نغمه نغمه تکلُم -- سعید ګوهر ------------ ٩

٢. دعارف تبسم "د لمر پل"------- سید خېرمحمد عارف----- ٢٧

٣. د خپلی شاعری په اړه څو خبری --- عارف تبسم -----------٣٩

غزلونه

٤. نن پـه حق چي زۀ پوهېږم محمده! -------------------------- ٤٥

٥. په خپل خزان ژوند کي سپرلے پالمه------------------------- ٤٧

٦. خاوره د سرو وینو له رنګه ګورم--------------------------- ٤٩

٧. څه خلګ بیا دمرګ له کاره سره لوبي کوي --------------------- ٥١

٨. مه ځه نور په دغه لاره، ستړے کېږې ------------------------ ٥٣

٩. خود به سپېرۀ کېږي، باران نۀ لري -------------------------- ٥٥

١٠. یم ناخبره چي به کله ماتوي ملګرتیا------------------------ ٥٧

١١. تۀ چي مرورشوې، مرورشوله ماخپل نصیب ---------------٥٩

۱۲. رڼاخوره کړم چي هر چیري قدمونه ږدمه ---------------------- ٦۰
۱۳. تهٔ چي رایادشوې زُما یاره! غزل نوې لیکم ---------- ٦۲
۱٤. څراغ راواخلو ،په تیاروکي په مزل پسي ځو ---------------- ٦٤
۱٥. ماچي له ځانه سره ږدي،ترځان مي کم و نیسي ------------------ ٦٦
۱٦. بیا به خوارانو ګیلې څهٔکولې ---------------------------- ٦۸
۱۷. له تبسّمه يې وفاغوښتله ------------------------------------- ۷۰
۱۸. لمحې دتېرعمردژوند له ماه وساله وزي -------------------- ۷۲
۱۹. دخوشحال رنګه تبسم هم مسیحا نهٔ مني -------------------- ۷٤
۲۰. یومئین په بوئ،خواهش د ګل کوو -------------------------- ۷٦
۲۱. دا سرمایه د زندګي ساتمه --------------------------------- ۷۸
۲۲. کولےنه شمه دمیني داظهار فېصله ------------------------------ ۸۰
۲۳. عجبه خلګ دي احساس چي دخپلوئ نه لري ----------------- ۸۲

نظمونه

۲٤. تضاد -- ۸٤
۲٥. ؟ --۸٥
۲٦. اې دفکرسپینه لمره! ------------------------------------ ۸٦
۲۷. غرور -- ۸۷

۲۸. سایې -- ۸۸
۲۹. ډوکال -- ۸۹

غزلونه

۳۰. له خپله قده راوتلې، په جهان خوارۀ شو---------------------- ۹۰
۳۱. زۀ کله تیاروکې هم ورکېږم نۀ ------------------------------- ۹۲
۳۲. دهوا چې په خلوص چایقین وکړو --------------------------- ۹٤
۳۳. بل به شي دمیني څراغونه، څه هلاکه ده--------------------- ۹٥
۳٤. مطلب دې څه دے وایه یاره! سم حساب به کوؤ ------------------ ۹۷
۳٥. دے راته پروت بیا دفکرونوکتاب ----------------------------- ۹۹
۳٦. سوځم، کبابېږم، دهجران په اورکې اوسمه ------------------- ۱۰۱
۳۷. په لاس کې هرسړے چې تُوره او خنجر ګرځوي --------------------۱۰۳
۳۸. چې په لیدویې زُما ساه، له سینې سمه وزي ------------------ ۱۰٥
۳۹. ستادسترګوتاب لرو، طاقت لرو -------------------------- ۱۰۷
٤۰. ستادراتلوپه امیدونوباورنۀ دےپکار --------------------- ۱۰۹
٤۱. ترخوبه داعجبه غوندې زندګې تېروم ---------------------- ۱۱۱
٤۲. زمااوستاترمیان یاره! بېلتون له ډېره وخته دے ---------------- ۱۱۳

٤٣. ليري سره او سود تړون په نوم ---------------------------
١١٥
٤٤. زړۀ کي مي ديار واړه غمونه خوندي کړي دي ------------------
١١٧
٤٥. وجود مي خورشو ،لاخوربږي،اوس له حده وزم -------------
١١٩
٤٦. سفرکوم دفکرشپه ورځ ترفطرته پوري --------------------------
١٢١
٤٧. دټول ښارخلګ راټول دي،دبلاخلاف جنګېږي ------------------
١٢٢
٤٨. دخوشحالۍ دخپلولوهوا نه لرمه --------------------------
١٢٤

نظمونه

٤٩. لمراوسحر --
١٢٦
٥٠. جدوجهد --
١٢٧
٥١. چې ګوېرا ته -- ١٢٨
٥٢. کوټه --
١٢٩
٥٣. کربلا ٢٠٠٤ء --
١٣٠

غزلونه

٥٤. موږچي ويشتلوهمېشه دلته په سنګ ګلونه ------------------
١٣٢
٥٥. ځانګړتيا نه بائيلم،خپل ځان له سمندره ګورم ------------------
١٣٤

٥٦. داخوشحالي، خندا به هم تېره شي -------------------------- ١٣٦
٥٧. بې سترګو خلک يُو ،وخپل نظر ته نه رسېږو ---------------- ١٣٨
٥٨. غرونه که هر څوورسېږي ترفلَکه پوري ----------------- ١٣٩
٥٩. لاهغسي دے ويران له ډېره وخته ------------------------- ١٤١
٦٠. له ځان سره سره ټول عمرخپل مکان ګرځوؤ -------------١٤٣
٦١. څله کوې دردمنه څله کوې ------------------------------- ١٤٤
٦٢. څله ناکام په هره لار يُودواړه ------------------------------ ١٤٦
٦٣. نه به درځم په دغه لارګرسره -------------------------------- ١٤٧
٦٤. زموږله سينوڅخه،زموږز ړونه،ښکلے غل و باسي -------- ١٤٩
٦٥. چي ښائست ګوري نوسپوږمۍ هم له جانان سره ږدي ------١٥٠

نظمونه

٦٦. يولسم ستمبر - په يورپ کي ------------------------------ ١٥١
٦٧. ګلوبلائزېشن -- ١٥٢
٦٨. و يورپ ته يوۀ وېنا ------------------------------------- ١٥٣
٦٩. په مځکه جنت -- ١٥٥
٧٠. ملګري ملتونه -- ١٥٧
٧١. په اټلي کي دڅه وخت تېرولوپس يَونظميه تأثر-------------- ١٥٩
٧٢. ښيښه څهره -- ١٦٢
٧٣. قدرِمشترک -- ١٦٣
The Dream Merchants ------------------------------------ ١٦٥
٧٥. ګلېډيئېټر -- ١٦٧

غزلونه

۷٦. مینه که کوې، قدم په پام راپسي مه اخله ----------------- ۱٦۸
۷۷. رڼامي چالوټ کړه اوڅوک مي په زوال خبردے ----------------- ۱۷۰
۷۸. ترچنارونو مي لړکم اېښے دے ---------------------------- ۱۷۲
۷۹. نه په یو رنګ کي اوسم، نه خپله څهره بدلوم -------------- ۱۷٤
۸۰ ما پاللې د دنیا هم دښمني وه ------------------------- ۱۷۷
۸۱ هره ورځ را خېژي په هر کور کي لمر ------------------- ۱۷۹
۸۲ ړوند دي شومه په دیدن پسي، نور غواړم--------------۱۸۰
۸۳ په څو شېبو مي تر اسمانه یوسي ---------------------- ۱۸۲
۸٤ دشاعر پیژندګلوي ------------------------------------ ۱۸٤

د عارف تبسم ــ
رنها رنها نغمه تکلم

د ښکلا د تخلیق په اړوند ، شاعري، موسیقي، رقص، مجسمه سازي او تعمیر په فنون لطیفه کښې خصوصي ځاې لري. پېژندګلوي ئې دا ده چې هر هغه فن چې خلګو ته جمالیاتي حظ، حسیاتي مسرت او روحاني خوشحالي ورکوي، هغه له فنون لطیفه څخه دے خو شرط دا دے چې په مادي ذرائع او وسائل به ئې انحصار، نه صرف لږ تر لږ وي بلکې د مادي ضرورت او منفعت سره به ئې تړون هم د نشت هومره وي لکه هېګل چې وئیلي دي چې "د فنون لطیفه معیار، له مادي وسیلو څخه په اجتناب او بېلتون منحصر دے".

د دغه تعریف په رڼا کښې به دا وېنا غلطه نه وي چې د نزاکت، لطافت او نفاست په ذکر شوی امتیازي او اعلیٰ معیار باندی ولی چې شاعري تر ټولو زیاته پوره خېژی ځکه ئې په فنون لطیفه کښې درجه او مقام هم تر ټولو لوړ او څرګند دے.

شاعري یو تخلیقي عمل دے چې د ځنګلي بوټي په شان پخپله را شین شي. بس یو کېفیت راشي او د الهام غوندی بیان شي. حتیٰ چې د تخلیق تر تکمیل پوری شاعر په دې هم نه پوهېږی چې هغه څه لیکي او څنګه ئې لیکي. یو غیر محسوس قوت د هغه په ذهن او حواسو باندی خور او حاوي وي او هغه یوه

نامعلومه دنیا ، د هغې کېفیات او عوارض په داسې روانۍ لیکي لکه اسماني فرشته چې هغه ته ډکټېشن (DICTATION) ورکوي. غالب هم دغه خبره، په ډېره ښائسته پېرایه کښې کړې ده :

آتے ہیں غیب سے یہ مضامیں خیال میں
غالب صریرِ خامہ، نوائے سروش ہے

په اردو کښې جدیده شاعري د ۱۹۶۰ء شاوخوا د ترقي پسند تحریك په ردِعمل کښې د حلقۀ ارباب ذوق له پلېټ فارم (PLATFORM) څخه پیئل شوه، سوب ئې دا وُ چې د "ادب برائې ادب" (زما په خیال ادب برائې فن) نظریه د "ادب برائې زندګي" په مفکوره باندې د بدلېدو پس د یکسانیت ښکار شوې وه، ادبیات د تخلیقي علویت او فکري رفعت له اوچته معیاره څخه د وګړو د نس او نفس غوندې په عمومي موضوعاتو باندې د نعرې، پروپاګنډ او اشتهار رنګه و لوېدلې سطحې ته را کوز شوې وو. تخلیق یو مخ د خارجي فکر نمائندګي کوله، داخل ئې یکسر نظرانداز کړے وُ. الهامي کېفیت ئې د نشت برابر او د منصوبه بندۍ زور ئې بېخي جوت وُ. حالانکې تخلیق د هغې قدرتي چشمې په مثال دے چې پخپله را و بهېږي. د ډېم (DAM) غوندې نه چې د منصوبې تحت جوړېږي. په داسې حالاتو کښې د خارجیت د زبردست یرغل په ضد تخلیقي ذهنونو بیرته داخلیت ته مراجعت ضروري وباله البت په دې تحریك کښې تر ټولو ګټور اړخ دا را مخته شو چې د روایت ټوله ښکلا او فن، د ترقي پسندۍ ټول مقصدیت او افادیت ئې هم د تخلیقي عمل برخه وګرځاوه. هغه ټول نظریات، رجحانات، اسالیب، هېئتونه او اصناف ئې د تخلیق

د تازګۍ، قوت تاثیر او ارزښت دپاره خپل کړل چې یوه ژبه د عالمي سطحې د غوښتنو او معیار سره برابرولے شي. د اردو شعر و ادب دغه همه ګیر او همه جهت موثر تحریك، پښتو ادبیات هم تر خپلې اغېزې لاندې راوستل او په هره سیمه کښې داسې ځیرك او باصلاحیت لیکونکي را پېدا شول چې هغوې و خپل اظهار ته د نوې لب او لهجې ورکولو دپاره د تخلیقي او تنقیدي زیار، ذمه دارانه کردار خپل کړو.

په شاعرۍ کښې د نوؤ هڅو او جدیدو رجحاناتو د خپلولو او خورولو په اړه "د لورالائي مکتب" په ټوله پښتونخوا کښې جلا او منلے ځاې لري. د خپل سرخېل پروفېسر رب نواز مائل په مشرۍ کښې د "بوري" د تاریخي او افتخاري خاورې سره تړون لرونکو شاعرانو، نه یوائې پخپله د اظهار نوي اسالیب پېدا کړل بلکې د جنوبي پښتونخوا څخه دباندې ئې هم اغېزه ښکاره او اثرات مرتب شول. نن دا په دعویٰ سره ویل کېدے شي چې "لورالائیات" د یوې شعري، ادبي او تنقیدي اصطلاح حېثیت تر لاسه کړے دے او د لورالائي د مکتب جدیدې شاعرۍ د شلمې پېړۍ تر ټولو د موثر مکتب او منظم تحریك ځاې موندلے دے. په دې خاوره کښې د نوو رجحاناتو په اړه د بحرونو، هېئتونو، قافیې ردیفونو او لفظونو د علامتي، تمثالي، استعاراتي او د نوي معنوي استعمال د کامیابو تجربو سره سره په مختلفو ژانرونو کښې په متنوع موضوعاتو باندې پرله پسې دومره اهم تخلیقي کار او زیار مخې ته راغے چې هیڅ ادبي تاریخ او شعري تذکره ئې نظرانداز کولے نه شي. خصوصاً د لورالائي شاعرانو د خپل خپل اسلوب په حواله

انفرادي تشخص بیا موند. د "اسلوب" د امتیازي تخصص په حقله د پروفېسر شمیم حنفي دا وینا د قاطِع بُرهان په مصداق ده چې " تجربې او تصورات مشترك کېدلے شي خو اسلوب هغه صفت دے چې خالصتاً انفرادي او شخصي ملکیت بلل کیږي، د دې اړخ د جاج او جائزې په پرته د یو ادب پارې صحیح مطالعه امکان نه لري" خو د اسلوب (STYLE) او اسلوبیات (STYLISTICS) په اړه په پښتو کښې دومره لوړ تنقید او علمي پرتلنه تر هغه وخته ناممکن ده چې ادبي تجزیه د سائنس تر مرتبې پورې ځان نه ورسوي.

د لورالائي د جدید شعري مکتب سره ناشلېدلے تړون لرونکي شاعران لکه محترم رب نواز مائل، سید خېرمحمد عارف، سرور سودائي، عمرګل عسکر، اروابناد وزیرمحمد سوالي، ځوانیمرګ سید محمدګل شاه خوستي او راقم الحروف او په مونږ پسې پروفېسر محمودایاز، افضل شوق او سهېل جعفر او ورپسې راتلونکي منور ځلمیان لکه عبدالغني مبارز، رازق فهیم، عارف تبسم، علي کمېل قزلباش او قاري جمال الدین مسافر داسې نومونه دي چې له ادبي دُنیا سره په زړهٔ پورې تعارف لري او په خپل خپل ځاې د ادب په ناقدینو باندې د سنجیده لوستني او ستاینې حق لري. د دغو ټولو شاعرانو شخصي تخصیصات او تخلیقي ممیزات را مخته کول یو باقاعده تنقیدي موضوع دے چې په دې لیکنه کښې ګنجائش نه لري، ولې چې دا وخت د ګران عارف تبسم د راتلونکي مجموعې په بابله تفهیم او تحسین یا مطالعه او تجزیه زما اصل موخه ده.

ګران عارف تبسم یو ذهین، متین، سنجیده، فهمیده، دیده

ور او بـاهنر ځلمـے دے، هغــه د لــورالائــي د ويــاړمنی تــپې د ژونــد او ژواك مجــسم تــصوير او مكمــل تفــسير دے. هغــه يــواځی خوبــصورت او خــوب ســيرت، خــوش خيــال او خــوش بيــان پښتــو شــاعر نــه دے. د پښتــو او اردو دواړو ژبــو ډېــر ښــه، غښتلے، باشــعور، مترقــي صــائب الــراې او صــاحب الــراې نثرنگــار هــم دے. د هغــه مــضامين د هغــه د ادبـي قـد و قامـت او فكـري شخـصيت پـه تـشكيل كښـی اهـم معنـوي رول لــري خــو دلتــه ئــې اجمــالي ځېړنــه هــم ولــی چــی د طوالــت باعــث گرځی ځكه زهٔ خپل اصل موضوع ته پاملرنه را گرځوم.

د گــران عــارف تبــسم دا اولنــۍ شــعري ټولگــه "د لمـر پـل" مـا لـه سـره تـر پايـه لفـظ بـه لفـظ لوسـتی ده. پـه دې كښـی د تـورو د بـاران وروسـته د كاغـذ پـه اسـمان بانـدی د خيـالونو سـرې او شـنې پـه شـعري فــضا كښــی د تخليــق تــازه، شــوخ او نــوی رنگونــه پاشــلی دي چــی د ادبي كائنات حسن ئې نور هم زيات كړے دے.

عــارف تبــسم پــه غــزل او نظــم دواړو كښــی د يــوه ســپېڅلی شــاعر پـه حېـث گـڼ داسـی مـضامين قلمبنـد كـړی او موضـوعات څېـړلی دي چـی ادب مَيَنـان او د فكـر و فـن نقـادان ځـان تـه ارومـرو متوجـه كـوي. پـه دې اړه هـر هغـه څـه ليكـل خـو امكـان نـه لـري كـوم چـی مـا محـسوس كــړی دي البــت هغــه موضــوعات چــی د هغــه د فكــري دائــرې پــه جوړښــت كښــی مركــزي اهميــت لــري، دلتــه ذكــر كــول او د هغــه د اظهـار د انـداز پـه حقلـه څـه نـا څـه تللـی رايـه تاسـو تـه وړانـدی كـول ددې ليكنی يوه اساسي غوښتنه ده.

عــارف تبــسم د جديــد حــسيت يــو نمائنــده پوهېــت دے. د هغــه لــب او لهجــه پــه تــازگي، رعنــائي او توانــائي ډكــه ده. د هغــه لفظيــات

کــه یــوې خواتــه د شــعري روایــت او ادبــي تجــربې د توثیــق عکــس العمــل ښکــاری نــو بلــی خواتــه د نــوی معنویــت د زیــږون، لټــون او پَلَټــون پېلامــه هــم دي چــی لــه علامتــي، تــشبیهاتی، اســتعاراتي استعمال ســره سـره تمثیلـي او محاکــاتي انـداز هـم لـري چـی د پښتـو شــاعرۍ د پــرمختګ پــه ســفر بانــدی دلالــت کــوي او د یــو ځــانګړی اسـلوب د جوړښــت واضـح څـرك لـري. کـه دا ولـیکم چـی د لفظـي تــشکیلاتو پــه تــرڅ کښــی یــو نــیم ځــاې هغــه د نیولــوګیزم (NEOLOGISM) تـر حـده اجتهـادي هڅـی کړیـدي نـو کـره کتنـه او باقاعده څېړنه دا اړخ هم ثابتولے شي.

د عــارف تبــسم پــه شــاعرۍ کښــی مــا لــه خپــل ټاټوبی، خپلــی خــاوری، خپــل ولات ســره ذهنــي او قلبــي تــړون، د مځکــی ســره ټینګــه رشــته، د پښتــو، پښتــون، پښتونخــوا او پښتونــولي ســره نــه پــرې کېــدونکے تعلــق او د خپــل کلتــور، رســم او رواج، دود او دســتور، لــه ښــو او اعلٰــی قــدرونو ســره د وفــا او اخــلاص، مینــی او عقیــدت رویــه لـه ورایــه ښکــاره لیـدلی ده. د هغــه پــه نظـم او غــزل دواړو کښــی معاشــرتي روایـــات، ســـماجي تـــاریخ، انـــساني تمـــدن، ثقـــافتي اقـــدار، تهـــذیبي ښائــستګي، اخلاقــي رویــې او عــالمي منظرنامــه پــه فکــري بلاغــت او جمالیاتي شعور سره په ډېر مهارت او کمال انځور شوی دي.

د معروضــیت او موضــوعیت پــه حوالــه د عــارف تبــسم شــاعري د خپــل بــاطن او شخــصیت د عرفــان تکــل هــم دے او د نړیــوال کلــی د آشــوب، بُحــران او رســتخیز د آګهــۍ ذریعــه هــم، چــی د کــم عمــرۍ باوجود د هغه فکري پختګي او ذهني بلوغت څرګندوي.

د دې مجمــوعې مطالعــه دا ښودنــه هــم کــوي چــی عــارف تبــسم لــه

جمالیاتي ذوق او د مینی له تجربې څخه هم بې برخې نه دے پاته شوے خو دا اړخ زما په خیال د هغه په موضوعاتو کښې ضمني او ثانوي حېثیت لري. که دا اووایم چې عارف تبسم په پښتو شاعرانو کښې هغه لومړے ځوان دے چې د عمر د فطري تقاضو باوجود ئې د مینې ضروري ضرورت نظرانداز کړے دے او خپل عصري شعور ته ئې د تخلیق په صورت ګرۍ کښې زیات اهمیت ورکړے دے، نو غلط به نه وي. هغه معروض زیات لیکلے دے او موضوع کم خو دلته دا وضاحت زښت زیات ارزښت لري چې په ادبي تخلیق کښې په بشپړه توګه د خالص معروضیت اظهار امکان نه لري، ولې چې خارج هم د تخلیق کار له داخل څخه هغه وخت را وځي چې د هغه د ذات برخه جوړ شي یا د هغه په احساس کښې د خپلې تجربې په څېر شامل شي او اظهار ئې ضرورت او مجبوري وګرځي. سوب ئې دا دے چې د شاعر خپلې تقاضې، عقائد، نظریات، جذبې، افکار او رجحانات هغه د خپلې خوښې ناخوښې هرکله پابند ساتي. وئیل دا غواړم چې عصري شعور هم د لیکونکی د شخصیت د کُلیت سره په تړون مجبور دے. له دې بغېر هغه د تخلیقي عمل برخه نشي جوړیدے او که جوړ هم شي د صحافتي تحریر رنګه به له خوند او تاثیر څخه خالي وي.

په دې مجموعه کښې د عارف تبسم ځنې نظمونه لکه "یوولسم ستمبر په یورپ کښې"، "ملګری ملتونه"، "په اټلی کښې د څه وخت تېرولو پس یو نظمیه تاثر"، "ګلېډیېټر"، " و یورپ ته یوه وېنا" او "The Dream Marchents" زما د پورتنۍ خبرې په تائید کښې وړاندې کېدلے شي. دا ټول موضوعات، معروضې دي خو د هغه د داخل د برخه جوړیدو پس ئې تخلیقي بڼه خپله کړې

ده. هم دغه د تخلیق غوښتنه ده. معروض چې تر څو په موضوع بدل نه شي. خارج چې تر څو د شاعر په باطن کښې تحلیل نه شي او له داخل څخه نه را ووځی، هغه فن پاره نشي بلل کېدے. د مثال په ډول به زهٔ د هغه معرٰی نظم "ګلوبلائزېشن" ستاسو مخ ته کښېږدم :

بې شکه دې کلي کی هر څه ډېر دي
خو د خپلوي چرته درک نه ښکاري
د میني هم څه سلسله نه وینم
د نړیوالو په دې لوی کلي کي
پېژندګلوي د هر چا ګډه وډه
هر یو ږغیږي اوس په بله ژبه
هیڅوک حال نه لري په خپل څنګلوري
بې شکه پراخ دي څلور واړه لوري

د هغه مختصر آزاد نظم "چي ګوېرا ته" هم مطالعه کړئ:

تا چی په کومه لاره
سر و بائېلو
په هغه لاره تګ اسانه دے ډېر
د دې دپاره بس
یو شرط دے لاژم
چی سړے ووځی له خپل ځانه
په جهان خور شي

د ۲۰۰٤ء د مارچ په دویمه نېټه (چی د ۱٤۲۵هـ د محرم لسم تاریخ دے) په کوټه ښار کښی چی د ترهه ګری یا فرقه واریت

کومه ناوړه او ناروا پېښه شوی وه. د هغې بیان چې عارف تبسم په کوم دلآوېز انداز او له غربوه په ډك آواز کښې کړے دے، هغه د معروض په موضوع باندې د بدلپدلو بهترینه نمونه ده. یوه خارجي واقعه یا وقوعه موثره تخلیقي تجربه هم داسې جوړیږي. په غور ئې و لولئ :

کور ته مې اور واچولو ځکه لمبې پورته شوې
بیا مې له دا خپل وجوده خاوري ایرې پورته شوې
څوارلس سوه کاله پس په ما کښې شو یزید را ویښ
ځکه مې د خپل حُسین له دږده ناري پورته شوې
بیا مې کړو لاسونه نن په خپلو وینو باندې سره
ځکه مې نن بیا پنځه څلوېښت جنازې پورته شوې

عارف تبسم د نظم نګار په حیث په ښو موضوعاتو، ښه منظومات لیکلی دي. د پورتني موضوع سره په تړلی موضوع " کربلا ۲۰۰٤ء" کښې د هغه اختتامیه ډېره بلیغه او موثره ده :

بیا ډېرو خلګو د یزید شکل او قد واغوستو
بیا ئې په ډېرو حُسېني سرونو لوبې وکړې

د هغه " نعت" او ځنې نور نظمونه لکه "جدوجهد"، "؟"، "ښیښه څهره"، "په مځکه جنت" او " اے د فکر سپینه لمره" (د حمزه بابا په حقله) د ډېرې ستائینې وړ دی خو زهٔ ئې دلته دوه درې مختصر غوندې نظمونه تاسو ته وړاندې کول غواړم، کوم چې زما په خیال، په اختصار کښې جامعیت، په اظهار کښې معنویت او په پیرایه کښې جاذبیت لري. تر ټولو له مخه د هغه نظم "تضاد" ته پاملرنه وکړئ:

ازغن فطرته خلګو
څنګه عجيبه غوندی
خويونه خپل کړو
رنګونه واغوندی
او لاړ شي
په ګلانو ګډ شي

"تضاد" د هغه په يو مسلسل غزل کښی هم موضوع ګرځيدلے دے چی خصوصي کتنه غواړی د پورتني نظم په حواله زما په فهم، په لنډو ټکو کښی، د شعريت په ژبه، زمونږ د معاشرتي ژوند د متضادو رويو او د نفسياتو په اړه د وګړو د منافقانه دوه مخيزه کردار تر دې زياته، په زړه پوری انځورګري شايد ممکن هم نه ده. همداسی زمونږ د چاپيرچل د معاشي، سياسي، طبقاتي او اخلاقي صورتِ حال په اړه هغه يوه وړوکی منظومه د "سائې" تر سرخط لاندی پخپله علامتي او تمثالي بڼه کښی نه صرف د اظهار او ابلاغ حق ادا کړے دے بلکې په دې کښی دا هم څرګنديږی چی هغه په نړۍ او تاريخ باندی ژور نظر لري، د ماضي او حال سره سره هغه د مستقبل امکانات هم ويني. د عصري شعور په رڼا کښی دا نظم د آفاقيت رنګ او د ژوندۍ شاعرۍ مثالي نمونه بلل کېدلے شي :

په څومره هيله
ساده خلګ و اسمان ته ګوری
غواړی په ټکنه غرمو
له سرو لمرونو سائې
که څه هم دوی په دغه نه خبر دي

چي يوه توره او اوږده شپه
را روانه ده بيا
ځکه اوږدېږي وار په وار
د ډېوالونو سائې

هم دغه يا دغسی احساس د هغه په يو بل مختصر نظم "لمر او سحر" کښې هم جوت دے. په اصل کښې د ماحول توره شپه د هغه په حسيت باندی خوره ده، هغه د حالاتو تيارو خوړلے دے، هغه د وخت تورتم دومره ځپلے، ځکلولے او ځورولے دے چې هغه د ژوند او ژوندَسرو دپاره د رڼا مستقل اهتمام غواړی، حتٰی چې په شپه کښې هم د لمر ضرورت محسوسوي. ګوا سپوږمۍ، ستوری، ځراغونه، ډيوې او بَلَبونه هغه وسيع المعاني شپه نه شي روښانولے کومه چې د وګړو په حواسو باندی خوره ده، دا تاريکه په اصل کښې د اطمينان، سکون، خوشحالۍ او پرمختګ هغه رڼا غواړی چې ذهن او زړهٔ منور کولے شي، هغه لمر غواړی چې زوال او غروب نه لري او داسی "يوټوپيائي" لمر انساني معاشره شايد چې هيڅکله نه ووينی خو د عارف تبسم په شانی د ژوندي فکر او حساس طبعی شاعر د نړۍ د ودانۍ سوکالۍ او ترقۍ دپاره که نور هيڅ نه شي کولے. خوب خو ليدلے شي بدرنګه ماحول، په خيال خو ښائسته کولے شي. ماته خپل يو اردو بيت را پياد شو :

اور کچھ کر نے کے قابل تو نہیں سوچ مِری
کاش! دُنیا مَیں تِری اور حَسیں کرسکتا

د عارف تبسم نظم داسی دے :

په نیمه ورځ به می یواځې پرېږدی
یقین د ورځی
په لمر څنګه وکړم؟
ماته د شپې ستا ضرورت دے لمره!
ستا انتظار
تر سحر څنګه وکړم؟

په دې مجموعه کښې د عارف تبسم یو نثري نظم هم د "قدر مشترك" تر عنوان لاندې شامل دے، زهٔ له دې څخه انکار نه کوم چې ښه خیال بلکې بهترین خیال پکښې دے خو له دې سره متفق نه یم چې نثر ته دې د نظم نوم ورکړے شي، ولې چې نثر نثر دے او نظم نظم. معنوي اهمیت او فکري ترفع په نثر کښې هم خپل قدر او قیمت نه بائېلي. ځکه د "نثري نظم" په ډول ئې د وړاندې کولو تصنع او تکلف ته هیڅ ضرورت نشته. خدائېګو! زهٔ د هیڅ نوی صنف مخالف نه یم خو دا ضرور وایم چې نثري نظم دې د شاعرۍ په ځاې د نثر په اصنافو کښې شامل کړے شي لکه "ادبِ لطیف" چې په تېرو وختونو کښې د نثر برخه وهٔ. هم هغه "ادبِ لطیف" ته نن "نثري نظم" ځکه وایه شي چې لیکونکے ئې برناحقه شاعر جوړ شي. حالانکې "شاعری جزویست از پیغمبری"_ لکه هر څوك چې پیغمبر نه شي جوړېدلے. همداسې هر څوك شاعر هم نه شي جوړېدلے بلکې "مُتَشاعر" جوړېدل لاهم څه ناڅه فني خبرتیا ته اړتیا لري. د نثري نظم "خودساخته او نام نهاد شاعر" ته خو متشاعر وئیل هم روائېنت نه لري لکه "نقلِ کفر" چې "کفر نباشد". شاعري خپل حدود او قیود لري. د هغو پابندي که ګرانه ده، دا خو اسانه ده

چې سړې دي "نثرنګار" جوړ شي حالانکې زما په خيال نثرنګار جوړېدل هم ښېخي ګران کار دې.

د عارف تبسم د دې مجموعې د غزل برخه هم د معنوي ارزښت او فکري بلوغت په حواله خپل خوند، رنګ، او اغېزه لري يا په نورو ټکو کښې د جديد غزل له شعار او معيار سره ښنګ وهي. لکه څنګه چې ما له مخه ليکلي دي هغه يو بېدار، حساس او ژوندې شاعر دې. هغه شاعري يوه تفريحي مشغله نه بولي ځکه د غزل په ښېتونو کښې هم د لوستونکو ذهني تربيه کوي. د هغوې مخ ته حقيقت او واقعيت په شعري پېرايه او موثره لهجه کښې وړاندې کول هغه خپله ادبي وظيفه او علمي فريضه ګڼي. هغه غواړي چې خپل فکر، احساس، جذبه او بصيرت تر خپلو قارئينو پورې ورسوي چې د هغوې دپاره د لطف اندوزي څخه زيات د هغوې په خيالاتو کښې بدلون، ويښوالې او ځلا راولي، دا څو اشعار ئې د مثال په ډول وړاندې کوم:

موږ به په شپه هم لکه ورځ سپينه رڼا خوروُو
تيارې که هر څو له سهاره سره لوبې کوي

څراغ را واخلو په تيارو کې په مزل پسې ځو
موږ هره شپه لټون کوو، د لمر په پل پسې ځو

دا به ضرور د چا د جبر ښکار وي
ګني دا خلګو تيارې څه کولې

زموږ لاربنوونکي ټوله ورځ تر لمر چاپېره ګرځي
ځان ته رڼا را ټولوي، موږ په تياره کې ساتي

چـــا چـــې پـــر دوی بانـــدې تيـــارې راوســـتې
دوی لـــــه هغـــــه ځخـــــه رڼـــــا غوښتلـــــه

بيـــا پـــه ټـــول وطـــن تـــورو تيـــارو خولـــه لګـــولې ده
ځـــو خلګـــو و ځـــان تـــه ځراغونـــه خونـــدي کـــړي دي

زه پـــــه دې ســـــپېره منظـــــر عـــــادت نـــــه يـــــم
دا ځنګـــــه ســـــپړلې دې، ګـــــلان نـــــه لـــــري

د يـــوې کونـــډې ماشـــومان پـــه ســـپېدو پورتـــه شـــولو
وائـــي مورکـــۍ! مـــوږ د اتـــامو پـــه تکـــل پـــسې ځـــو

پـه دې پورتنيـو بېتونـو کښـې شـپه، سـحار، رڼـا، تيـاره، څـراغ، لمـر هغـه علامـات او اسـتعارات دي چـې د عـارف تبسم پـه شـاعرۍ کښـې ځـاې پـه ځـاې خـواره واره ښکـاري. دا محـض الفـاظ نـه دي. د هغـه د فکـر او پېغـام د ترسـيل، تفهـيم او تـشريح مرکـزي منـابع دي او د لوسـتونکو دپـاره زمونـږ د سـماجي ژونـد او سياسـي حـالاتو د پـوهنی بنيـادي ذرائـع دي. کـه مونـږ پـه ځيـر ورتـه وګـورو نـو پـه دې لفظونـو کښـې زمونـږ د چاپېريـال انځـور لـه خپلـې صـحيح ځهـرې او حقيقـي کـړو وړو سـره موجـود دے. بلکـې پـه دې شـعرونو کښـې د سياسـت او سياسـتمدارانو اصـل شـکل هـم محفـوظ دے چـې بېخـي بـدرنګ، قبـيح او مکـروه دے. لـه دې پـه پرتـه زمونـږ د هېـواد بـې رنګـه سـپېره منظـره او د خوارانـو د ژونـد ژواك د بدحالـۍ او د رزق د تحـصيل د کـړکېچن او خـوږمن صـورتِ حـال اظهـار هـم پـه بليـغ

او فصیح تورو کښې مرقوم دے.

عـارف تبسم ولـې چې خپـل چاپېرچـل پـه برنـدو سترګو وینـې ځکـه هغـه نـه تېروځـې، هغـه "مـداریان" ډېـر ښـه پېژنـې. د "نعـرو" پـه ځاې "عمل" غواړي. ګټور او مثبت عمل، دا شعر ئې وګورئ :

ثـــوك د نعـــرو ليكلـــو حـــق نـــه لـــري
زۀ خپـــل د ېـــوال غېـــر سياســـي ســـاتمه

کـه داسـې نـه ده نـو بيـا دا يـو ښـه طنزيـه شـعر دے او دا ځنـې مـراد دے چې پـه موجـوده حـالاتـو کښـې د سياسـي شـعور بغېـر ژونـد بې معنـا دے. ځکـه هيڅـوك دا حـق نـه لـري چې د قـام لـه بېـدارۍ او د وطـن لـه ترقۍ ځخـه لاتعلق پاتـه شـي خـو عـارف تبسم چې د کـوم رجحـان او مـزاج شـاعر دے. زمـا پـه فکـر هغـه "غېـر سياسـي" کېـدلے نـه شـي. البـت هغـه پخپـل تنـدي هـيڅ لېبـل لګـول نـه خوښـوي. هغـه د چـا غلـط کـار پـه لار نـشي تللے. د چـا "بهـروپيې" تقليـد نـشي کولے. د چـا قـام خرڅـونکی او وطـن فـروش پيـروي نـه شـي زغملے. هغـه خپـل فکـر، خپـل نظـر لـري او د هغـه مطـابق د ژونـد دپـاره لاره ليکـه ټاکـل خوښوي لکه په خپل دې شعر کښې چې وائي چې :

ځـــان تـــه رڼـــا را ټولومـــه او ابـــاد بـــه وځـــم
مـــزاج د لمـــر لـــرم، د تـــورو تيـــارو بعـــد بـــه وځـــم

عـــارف تبـــسم پـــه انقـــلاب يقـــين لـــري او انقـــلاب هيڅکلـــه د سـترګو پـه رپ کښـې نـه راځـي، هغـه پخپلـه وخـت راځـي. البـت پـه فکـر کښـې د مبـارزې قـوت او لـه نـاموافق مـاحول سـره د ډغـرې حوصـــله، پـــه ارادو کښـــې اســـتقلال او پـــه زړۀ کښـــې تـــوده ولولـــه غـواړي، يـواځې دا نـه بلکـې يـو لـه صـبر او زغـم ځخـه ډك ناسـتړے

انتظار هم، لکه په دې شعر کښې چې هغه پخپله وئيلې دي :

بـــل بـــه شـــي د مينـــې ځراغونـــه، څـــه هلاکـــه ده؟
رونـــه بـــه شـــي دغـــه د ژونـــد خونـــه، څـــه هلاکـــه ده؟

تاسـو وکتـل چـې هغـه د اُميـد تلقـين کـوي ولـې چـې پـه راتلـونکې بـدلون بانـدې غېـر متزلـزل يقـين لـري لاکـن هغـه پښـه پـه پښـې ايښـې، بې غمـه نـه دے ناسـت، لګيـا دے کـار کـوي، پرلـه پسـې زيـار باسـې، ذهنونه ويښوي، جذبې را پاروي او رجحان سازي کوي :

رڼـا خـوره کـړم چـې هـر چيـرې قدمونـه ږدمـه
و مـــخ تـــه ځمـــه او پـــه لاره ځراغونـــه ږدمـــه

ژونـــده! ســـتا غمونـــه پـــه خنـــدا وړمـــه
اوښکـــه اوښکـــه يمـــه خـــو څڅېـــږم نـــه

د ژونـــد ، حـــالاتـــو او مـــاحول ســـره د هغـــه ټينګـــه فکـــرې وابســتګي پخپــل ځـاې، رښتيـا خبـره دا ده چـې پـه اوړو کښـې د مـالګې پـه مقـدار د هغـه د مينـې او ښکـلا پـه بـاب اشـعار هـم ډېـر خوږلـت، نـوے تـوب او زړه راکښـون لـري، هغـه چـې لـه دې موضـوع سـره تـړلې کـوم اشـعار کښلـې دي، هغـه زيـاتره پسنديده دي، زۀ ئـې دلته صرف څلور نمونې ستاسو مخ ته ږدم:

ســتا د سـپين مـخ پـه ويـړ اسـمان بانـدې خـواره واره شـي
ســـتورې دا ســـتا د ښائـــستې زنـــې لـــه خالـــه وزي

تـر څـو بـه ژونـد مـوږ تبـسمه! پـه لېمـو کښـې کـاوه
د اوښکـو څـاڅکې شـو، د پيغلـې پـه ګرېـوان خـواره شـو

نــــه بــــه درځــــم پــــه دغــــه لاړ ګرســــره
پــــرې بــــه ږدم ســــتا کلــــے او ښــــار ګرســــره

کــه څــه هــم ضــد دي يــو د بــل خــو تبــسمه! ګــوره
څــومره پخــه ده د ګـــلاب او د ازغـــي ملګرتيـــا

د جـدت او انفراديـت مرقـع، دا درې مرصـع شـعرونه ئـې د فنـي کمـال او جمالياتي اظهار ژبنتی زياتی ښائستې او په زړه پوری نمونې دي :

ځانګړتيـــا نـــه بـــائېلم، خپـــل ځـــان لـــه ســـمندره ګـــورم
ځکـــه خـــو واوره وجـــود زۀ لـــه تـــاوده لمـــره ګـــورم

خپـــل دېوالونـــه هـــره شـــپه لـــه ځـــان ســـره ويـــده کـــړم
خــداې خبــر څــوك ئــې هــر ســهار د بــل مکــان ســره ږدي

د تيـــارو بـــدي مـــی نـــوره پـــه وس نـــه ده
ننــــواتی تــــه مــــی ور وړه څراغونــــه

زۀ د عــارف تبــسم ټولــه شــاعري نــه ســتايم، پــه هغــی کښــی نيمګړتيــاوی، خاميــانی او کمزوريــانی هــم شــته خــو پــه مجمــوعي ډول ئــې زۀ د اســقام او معائــب پــه ځــاې شــعري حــسن او محاســن تــه زيــات اهميــت ورکــوم، د مثــال پــه توګــه ئــې د لفــظ د منفــرد او جديــد استعمال په ترڅ کښی دا يو شعر وګورئ چی :

مــوږ چــی ويــشتلو همېــشه دلتــه پــه ســنـګ ګلونــه
ځکـــه پـــه دې هېـــواد کـــی نـــه کـــوي غورځنـــګ ګلونـــه

د "غورځنـــګ" تـــورے د "ټوکېـــدلو" پـــه معنـــا شـــايد چـــی پـــه اول ځــل عــارف تبــسم کارولــے دے، دا د هغــه د هنــر د ښکــلا يــو څــرك دے. تفـصيلي مطالعــه ئــې ډېــر داســی نکــات پــه تاســو واضــح کولــے

شي. زۀ به خبره په دې را لنډه کړم چې د دې شعري مجموعې سرسري لوستنه به هم تاسو په دې اعتراف مجبور کړي چې د لورالائي زرخېزه او نغمه رېزه خاوره داسې ګلونه هم را ټوکولے شي چې خوشبوئي او رنګ ته به ئې خوشبوئي او رنګ هم ګوته په غاښ پاته شي. د دغه امکان په رڼا کښې ماته د ستر ماوزې تنګ خبره را ياده شوه هغه وئيلي وو چې :

"ګلونه و غوړېدلو ته پرېږدئ "

زۀ د دې قول د معنوي قدر و قيمت په احترام کښې مجموعه تاسو ته سپارم او په دې هيله اجازت غواړم چې تاسو به پخپله فېصله وکړئ چې دا ګل څنګه غوړېدلے دے؟

خاوری
سعيدګګو هر
کوټه
جمعه المبارك
۱۰ مارچ ۲۰۰٦ء

د عارف تبسم "د لمر پل"

د بوري د ګلبن خوشنوا بلبل عارف تبسم د یوه خواږه ملګري او زلمي تخلیق کار په حیث و ماته بېخي تر ډېر جهان را تېر دے، زه له هغه وخته د ده په ژوندي جذباتو، تلوسو او په هغه بې خوبه، خوبونو باندي ډېر ښه خبر یم، چي د انساني نېکمرغیو په هیله، د بدمرغیو لمن را ټولول غواړي، زه د ده د تخلیقي وژن د پراختیا، صباوُن او په ادب کي د پرمختګ د هلو ځلو شاهد (ګواه) هم یم.
دا غالباً د ۱۹۹۰ع کال خبره ده، چي کله پر ما باندي د لغړخولي عارف تبسم د شاعرۍ راز منکشف شو او بیا چي ما ولید چي د سکول په دې کم عمره لوستونکي کي د شاعرۍ خورا ښه او خوندور رنګونه موجود دي، نو ما د طالبعلمۍ باوجود و دې ته وهڅاوه، چي د پښتو ادبي ملګرو پر سټېج باندي راسي، دا وو چي له همدې سټېج څخه یې داسي په زړه پوري ابتدا وکړه، چي د ژوند په هر پړاو کي ورسره د ښه شاعر لاحقه و تړل شوه، هن تر دې چي د ادب پرورۍ سره سره یې په انګلش لټرېچر کي د ماسټر ډګرۍ تر لاسه کړه، هغه ورځ ده او دا نن ورځ ده چي تبسم د خپل شاعرانه منصب په پرته د اُردو، پښتو او انګرېزي د یو ښه نثرنګار په توګه هم په هر چا باندي خپل ځان و پېژندلو.
ولي په دې مابین کي ډېر ملګري د نام و نمود او غم روزګار په تکل کي د ګمنامۍ و کندو کپرو ته لاهو شو خو عارف تبسم د ځني نامساعدو حالاتو باوجود هم غزل، نظم او نثر درې واړه د خپلي لاري څوري کړو، سره له دې چي عارف تبسم په شعوري ډول باندي

تر یوه حده پوري د مشاعرو د آه او واه له تاوده بازاره او د خپلي څېرې نمايي شخه ځان لېري ساتلو، حالانکه د يو ښه تخليق کار په اړه په دې ډګر کي د هغه د فعال رول لوبولو څه انکار نه شي کېدے.

په دې لړ کی د ادب د چوپړ دپاره تبسم خپل باطن او ظاهر د رياکارۍ او زنګ وهلي ورځي شخه يو مخ صفا ساتلي دي، دلته د اعتراف په توګه موږ د پښتو د درې مياشتنۍ مجلې " تماس" هغه ګڼي وړاندي کولے شو، چي د افاديت له امله اوس هم ډېرو ليکوالو په خپل ريکارډ کي خوندي کړي دي. د دې مجلو په مرتبينو کی د عارف تبسم کارکردګی د وياړ وړ ده. همدغه رنګه د آي، ډي، ايس، پي له خوا څه هغه درانه تقريبات، چي په ډېرو حوالو يې له ادبه سره تړون لازم دے، د عارف تبسم او ملګرو په زيارو سر ته رسېدلي دي او بيا په زياته د ګلوبلايزېشن او مورنۍ ژبو په موضوع باندې د ګڼو ژبو ګڼ شمېر سکالران را غونډول او بيا د ښځي مثبت فکر په حواله باندي د هغوی و مقالاتو ته کتابي بڼه ورکول د عارف يو بې ساری، ارزښتناکه او منفرد کار دے. په افغانستان کي د هوتکي دور د پښتو تاريخ "د خپلواکۍ لمرځرك" اُردو ژباړه هم عارف تبسم تر سره کړه. همدغه ډول چي د اُردو د "عکس العمل" مجلې د اېډيټر په حيث هغه څومره ګټور مواد را يو ځای کړے دے هغه بس يوازی د ده برخه کېدے شي، په نورو ډېرو انګرېزی، اُردو او پښتو مجلو او ورځپاڼو کی د ده خواره واره مضامين او افکار د ده د زيارو عکاسي کوي.

خو د خپلو نظرياتو په اړه هغه وخت ورکي نوره توانائي پيدا شوه چي کله يې د ارتقا بام ته د رسېدلو خلګو، د ژوندانه د انحطاط پذير

اقــدار او استحــصالي اصــليت وليــدو، ځکـه خـو چـي مونــږ د هغــه د يــورپ پــه ســفر کــی و ليکــل شــوو نظمونــو تــه پاملرنــه وکــړو نــو د هغــه تجربــات او مــشاهده لــه مونــږه لانــور لتهــون غــواړي، خــو پيــل بــه پــه دې وکــړو چــي کلــه مــوږ د بــوري د دغــه مينــه وال شــاعر و شــاعرۍ تــه متوجــه ســو، نــو هغــه کــه يــوې خواتــه د بــوري د دې لرغــونی اقــدار لرونکــی خاوري او غرونو سره د خپلی مينی او خپلوۍ اظهار په دا ډول کوی :

خپلـــوی او مينـــه مـــی فطـــرت ځکـــه ده
پـــه خپلـــه وينـــه کـــی بـــورے پالمـــه
مځکـــه دی هـــر وخـــت د اظهـــار نـــوی ګلونـــه کـــوی
ښکـــه هـــوا دی ده کوهـــاره غـــزل نـــوې لـــيکم
بيـــا دی لمبـــه را پورتـــه شـــوه د بوريـــوالی مينـــی
راغلـــے يمـــه ســـتا تـــر ښـــاره غـــزل نـــوې لـــيکم

نــو بلــي خواتــه د جماليــاتي اقــدارو لــه پــالني ســوا هــم جذبــه، هيئــت، اسـلوب، مــشاهده او د ژبــي بــشپړتيا د ده پــه شــاعري کــي لــه ورايــه څرګنــده ده، کــه څــه هــم لــه دغــه کيفيتــه ســره د ژوندانــه داخلــي او خــارجي احــساسات پــه فنــي او فکــري معنويــت ســره د لفظونــو پــه پساله بانـدي د پـسوللو متقاضـي دي، خـو تبسم لـه دغـي تقاضـا سـره د شــاعرۍ و ســماجي عمــل تــه هــم د ســماجي عــلا ئقــو پــه اړونــد بانــدې د حُــسن، ريښتينــوالي او صــداقت صــوت و آهــنګ ور پــه برخــه کــړے دے، چي له دې لاندينې شعرونو څه يې ښه اندازه کولے شو :

تــا چــي بــه شــپه ورځ لــه هــر چــا څخــه پــه پټــه ګنډل
زمـــا د نـــوم هغـــه تارونـــه لـــه دســـماله وزی
مـــوږ د ښکـــلا پـــه کاروبـــار کـــي رعايـــت نـــه کـــوو

ستړګي پـه   پور کي نيسو، زړونـه پـه تـاوان ګرځوو
تــه مــا کــړه اوښکــه، لــه بانــه مــی پــر بــارخو را تــوی کــړه
زه څـــو لمحـــې دا ســـتا پـــر ښکلـــی اننګـــی تېـــروم

ګونګـــی وريځـــې تـــه د ګـــل دپـــاره ژبـــه ورکـــړو
پــر مځکــه بانــدي پــه مثــال بيــا د بــاران خــواره شــو

کـــوفی ښائـــست پـــه نـــوم د مينـــي ځکلـــولي دي ډېـــر
حُـــسيني زړونـــه نـــور بـــاور زياتـــه پـــه دوی نـــه لـــري

تـــر تـــا بـــه هـــم د تبـــسم فکـــر در ورســـيږي
نظـــر اوچـــت لـــري، لاســـونه کـــه څـــه لـــوی نـــه لـــري

لکـه څنګـه چـي هـر انـسان د ژوندانـه تېرولـو پـه حقلـه يـو نقطـه نظـر لـري، دغـه رنګـه بـه تبـسم يقينًـا خپـل يـو نظـر لـري، خـو هغـه خپـل دا نظـر پـر خپلـو لوسـتونکو يـا اورېـدونکو بانـدي نـه مـسلط کـوي، کېـدے شـي چـي هغـه د اينګلـز لـه دې فکـره سـره متفـق وي، چـــي د ليکـــونکي اراده چـــي څـــومره قـــدر پټـــه وي، نـــو د فنـــي تخليقـاتو دپـاره هـم هـومره غـوره ده، لـه دې څخـه د فـن د کربـه تـوب او د کنايـاتي اسـلوب د اهميـت انـدازه کېـدے شـي، هغـه د دې دپـــاره چـــي فـــن د ېېلـــو ېېلـــو سياســـي شـــعارونو او د خطابـــت لـــه عيبونـو څخـه صـفا و سـاتل شـي، ځکـه چـي ادب او شـاعری، پخپلـه خـو مقـصد نـه وي بلکـه د مقاصـدو د تکميـل ذريعـه ګڼـل کېـږي، ولـي چـي چرتـه دغـه ذريعـه پـه کـار راوسـتل کيـږي نـو د دې دپـاره ښکلـې، خـوږه او داسـي ښائـسته جامـه پـه کـار ده، چـي د تخليـق

خونـد لاسـپوا کـړي، د ځـنې نقـادانو دا رول "چـې فـن پـه يـو مخـصوص چوکـاټ کـي را تـاو کـړي"، ځکـه د منلـو وړ نـه دے، چـې د ادب فنـي خاميـاني او جماليـاتي اقـدار يـې يـو مـخ هېـر کـړي وي، ولـي عـارف تبسم دا هـر څه پـه خپـل نظر کـي سـاتي او بيـا و مـخ تـه د يو مقصد ايښودلو باوجود هم د اظهار پېرايه ډېره درنه ايږدي :

لاهغــــسي دےويـــــران لــــه ډېـــــره وختـــــه
ودان نـــــۀ شـــو دا مکـــــان لــــه ډېـــره وختـــه
دغـــــه څرنګـــــه دُنيــــــا ده نـــــۀ پوهېـــــږم
پکـــي نـــۀ ښکـــاري انـــسان لــــه ډېـــره وختـــه

راځـــئ پـــه خپلـــه و منـــزل تـــه خپلـــه لاړ و ټـــاکو
خبـــر بـــه ورکـــه شـــي، کـــه ولاړه تـــر ملکـــه پـــوري

د تبـسم د اظهـــار پـــه دغـــه خـــوږه پېرايـــه کـــی ســـماجی ردعمـــل، ضـرب المثـل او د پـرمختګ پيغـام خـو يقينـاً شـته، مګـر پـه داسـي قرينـه سـره يـې خبـره کـړې ده چـي د هـر چـا د زړه آواز ګرځـي. دا ويـل بـه بې ځايـه نـه وي چـي تبـسم د ابـلاغ برابـره تلـه سـاتلې ده، نـه يـې چرتـه د ابهـام پيـدا کـول زيـار او کوشـش کـړے دےاو نـه يـې څـه غيرمـانوس تراکيـب پـه کـار راوسـتلي دي فنـي خوږلـت، ريښتينوالـےاو د حـالاتو و تـرخې تجزيې تـه يـې پـه ښـه پښتنـه لهجـه کـي ځـاى ورکـړے دے، چـي د قـدامت او جديـديت تـر څـنګ ورسـره د تېـر وخـت تجربـات او د اوسـنيو حـالاتو مـشاهدات او د راتلـونکی سـباوُن خونـد رنـګ يـو ځـاى کـړل شـوے دے. پـه دې رنـګ کـي نـه خـو هغـه د روايتـي ژړا، بېلتـون، هجـران او در پـه درۍ نـارې وهـی او نـه د خپـل مـسلك څخـه سـرغړونه کوي. د حالاتو په تورتم کی هم د خپل مرام په هڅه دےاو وايي :

هیله مو بیا هم له رښا نه خېژي
پای د دې تیارې که امکان نه لري
اوسي په کېږدۍ کې مجبوري یې ده
چرته به ځي ځوك چې مکان نه لري

ځراغ را واخلو په تیارو کې په مزل پسې ځو
مونږ هره شپه لټون کوو د لمر په پل پسې ځو
ځمونږ لارښوونکو زموږ د زیارو قدر نه دے کړے
ځکه خو خپل کاروان پرېږدو او مونږ په بل پسې ځو

هر ځو که خنډونه وي په لاره کې
زه خو اباسین یمه دریږم نه

حق مې هم خوري په غریبي مې هم ملنډې وهي
ځکه په سر مې له دیناره سره لوبې کوي
ما خو له هر چا سره مینه او اخلاص کړے دے
خلك مې ځله له دستاره سره لوبې کوي
له مرګه نه وېرېږی کړي د حق خبره په جار
تبسم ځکه خو له داره سره لوبې کوي

د تبسم په شاعری کې د اضدادو تمثیلي اشکال کله په یوه رنګ او کله په بل رنګ کې لیدل کیږي، لکه ځنګه چې د اضدادو په اساس د کائیناتو بنسټ دوام موندلے دے، هم دغه رنګه په شاعري کې دغه استعمال په نزاکت سره و شاعري ته د فکر په حواله ځلا بخښي. تبسم و دغه اضدادو ته د خپل دور په هنداره کې ګوري، کله د حالاتو تجزیه کوي کله و انسانانو ته

د خپلوۍ پیغام ورکوي او کله ورباندي د طنز غشي اوروي:

ځــه عجــب ســخیان خلــګ مــي ولیــدو
مــرګ چــي یــې وېــشلو د ژونــدون پــه نــوم

چــي یــې کــړو لېــرې مــوږ لــه خپلــو پــه فتــوو د کفــر
اوس هغــه خلــګ بــاچهي لــه خپــل ایمــان ســره ږدي

کــه څــه هــم ضــد دي یــو د بــل خــو تبــسمه! ګــوره
څــومره ښخــه ده د ګــلاب او د ازغــي ملګرتیــا

مــا رڼــا کــړلې ده پــه زړونــو کــي
زه اوس لــه تیــارو څخــه وېرېــږم نــه ځ

د بخـت، نـصیب او قـسمت سلـسله پـه شـاعري کـي د هـر شـاعر و مـخ تـه لـه ابتـدا څخـه د غوړېـدلي کتـاب پـه شـان پرتـه ده خـو تبسم د روایت و دغه منزل ته په جلا لاره تګ کوي او وایي:

هـسي خـو دې ټینـګ تـړون د مینـي زمـا او سـتا تـر میـان
خـدای خبـر چـي یـو بـه او کـه نـه؟ مونـږ د یـو بـل نـصیب
اې غوټــۍ غوړېــږه مــه ځ، د مینــي ســپرلې خــور نــه دې
دلتــه دې لــه خــاورو ســره خــاوري د هــر ګــل نــصیب
مــا ټــولي لیکــي د قــسمت پخپلــه ورانــي کــړلې
اوس بــه پــر خپــل بــې وزلــه زړه خــالي لاسـونه ږدمــه

لکـه مـا چي وړانـدې اشـارتًا وویـل چي شـاعري د خیـال او فکـر پـه کـالبوت کـې یـو سـماجي عمـل هـم وي، پـه همدغـه اړه چي کلـه د بـوري دا زرغونــه او سمــسوره ســیمه د یــو اوږدې ډوکلــۍ پــه ناتــار تــاراج ســوه، د مېــوه دارو درختــو ځنګلونــه پــه وچــه صــحرا بــدل شــو، د ډېــرو درنــو او

بدایه کورونو ځراغونه د نیستۍ په اوبو له بلېدو ووتو، نو د ویرانۍ په دغه منظر کې د عارف تبسم د احساساتو ځرېکي داسي پورته شوې، چي ډوکال یې د ډوکال او علامت په طور په کار راوستلو :

سینه د مځکي وچه شوله اوس په چیغو وایي
زما وجود به خدایه! کله له ډوکاله وزي

اوس به و تاته څه سندري د سپرلي اووایم
زه خو اغزي لانه لرم په دې ډوکال خبر دے

خود به سپیره کېږي باران نه لري
زمونږ بې وزله مځکه اسمان نه لري

یوه خبره چي زه یې د خپلو ملګرو په تخلیقاتو کي بیا بیا وینم، هغه د پښتنو د بدقسمته وطن هغه تاریخي ارزښت دے چي د هغه له جهته استعماري او استثماري قوتونو صرف د دوی له سرونو، عزتونو او ملي وحدته سره لوبي کړي دي بلکه د افغانستان د شل کلن جنګ په اساس چي د دوی د باغونو او رغونو مځکه د خپلو او پرېدو له لاسه د سرو وینو په باران اباده شوه نو د دغه دردناکو پښتنو درد د هر پښتانه لیکوال په تخلیق کي د خپل فکر مطابق غزوني وکړې. د عارف تبسم په کلام کي دغه درد خو شته چي شته، ولی هغه د خپل ملي درد د دوا د حصول دپاره کنایتًا د نکلونو د هغه شهزادۍ مثال وړاندي کوی، چي د ګټلو دپاره یې د شرط نه پوره کوونکو سر غوځول وو، ځکه خو وایي :

شرط تر شهزادۍ د رسېدو تبسم وانه ري
زمونږ د باچا لور نور هم سرونه خوندي کړي دي

خو تر شرط وړاندې کولو نه اګاهو، هغه د بارودو په اساس د سرو وينو د باران هغه منظر وړاندې کوي، چې له دې سرې مځکی به شايد د وينو ګلان را و ټوکيږي :

پېل د سپرلي چې په دې ښار کې په سرو وينووشو
سرې به يواځې و ټوکيږي د سره رنګ ګلونه
ډېر بارودونه زموږ پر مځکه باندي و اوربدو
ځکه اخته دي له يو بل سره په جنګ ګلونه

وې کرلو بارودونه زمونږ پر مځکه باندي
خدايه کوم فصل به د سرو وينو له نمه وزي

سوځي په کشمير او فلسطين زړونه
وير به لاتر څو مونږ پر کابل کوو

د دغه شهزادۍ د خپلولو د شرط پوره کېده د تبسم په خيال په يووالي کي دے، ځکه خو په جار وای :

راشئ چې يو کړو ځله دا خواره واره وګړي
د يو کېدو شرط دے ترلے له کاروانه سره

د سياسي پېچ و تاب په دې اخ و ډب کي تبسم هر يرغلګر، داړه مار هغه که د هري نظريې وي نه صرف مخالفت کوي بلکه د هغوی په حواله طنزاً وايي :

د هوا چې په خلوص چا يقين وکړو
هم د هغه ځراغونه يې ټول مړه کړو
تاته په کار دے د ظالم مخ نيوے
ته د دښمن ستاينه څله کوې؟

چـــا چـــي پـــر دوی بانـــدي تیـــارې راوســـتې
دوی لـــــه هغـــــه څخـــــه رڼـــا غوښتلـــــه

خـــو لـــه دې ســـره تبـــسم د خپـــل دور ســـماجي، سیاســـي حـالات او تقاضـې او چـاري د خپـل تخلیقـي عمـل پـه تـار بانـدي پـه عجوبه انداز سره داسي پېیي :

عـــدل، انـــصاف حـــق او قـــانون دي تـــش لفظونـــه پاتـــه
پـــه غټـــو غټـــو کتـــابونو بـــاور نـــه دےپـــه کـــار
مخلـص، بـې بـاك، نـډر، بـې لـوث او د وطـن خـدمتګار
د هـــر دېـــوال پـــه دې لیکونـــو بـــاور نـــه دےپـــه کـــار

اوس بـه د تبـسم و هغـه فکـر تـه پاملرنـه وکـړو د کـوم پـه بنیـاد چـي هغـه د نـړۍ د مترقـي هېوادونـو د ظلـم و ستم او د سـرمایه دارانـه نظـام و هغـه اړخونـــو تـــه ګـــوري چـــي د دوی استحـــصالي ادارې او ملتـــي نېـــشنل کمپنیـاني، کـه و ترقـي پـذیر هېوادونـو تـه یـو څـه پـه یـوه لاس ورکـوي نـو پـه دا بـل لاس یـې لـه سـود در سـوده سـره بیرتـه تـرې اخلـي او و چاتـه پـر خپلـو وسـایلو بانـدي د قـدرت پیـدا کولـو د ټیکنـالوجی د کتلـو موقعـه لاهـم نـه ورکـوي او بیـا د ځنې تـشکیل کـړل سـوو ادارو لـه خـوا پـه ګـران بهـا Five Star هوټلونـــو کـــي پـــه ســـیمینارونو، ورکـــشاپس او مـــذاکرو بانـــدي د کړکېچنـو مـسایلو د حـل دپـاره یـو څـو تقریرونـه او د بـې انتهـا دولـت خرڅونـه او بـس ځلـه روانېـدل، پـه دې لـړ کـي د عـارف تبـسم موضـوعاتي نظمونـه د اجتمـاعي شـعور او د عـصري آګهـي عـلاوه د تنقیـد د بـصیرت آئینـه دار دي. "ملګـري ملتونـه"، پـه اټلـی کـي د څـه مـوده تېرولـو پـس یـو نظمیـه تـاثر او داسـی نـور ډېـر نظمونـه دي چـي پـه هغـه کـي د خپـل دور ترجمـاني پـه ډېره ښـه توګـه سوې ده، خـو لکـه چي مـا وړانـدې ذکـر کـړےوو چـي عـارف تبـسم د ګلوبلایزېـشن د مغربـي تهـذیب او نـشوونما د ودې او

امکاناتو په حقله یو درست کتاب مرتب کړے دے. یقینًا چی سائنسی ترقۍ و دُنیا ته وده ورکړه، خصوصًا د انټرنیټ نظام خو د دُنیا ټولی "ولکې" یو له بله سره منسلك کړې لاکن د دې تر شا عالمي مالیاتی اداري او د ډبلیو، ټي، او او دا عالمی ساهوکاران که یوې خوالې د ګلوبلایزېشن او عالمي تجارتي تنظیمونو په اړه د قامي زیارمنو سرحدونه را ټولول غواړي نو بلي خواته به ترقي پذیر ممالك څه ډول د ترقي یافته هېوادونو د کثیر القومي کمپنیو ته خپل دا مانده مارکېټ هم له لاسه ورکوي او د نورو و محتاجي ته به اړ کیږي، چي نور خو نور، دلته به اکثره خلګ ژبه لا هم له لاسه ورکړي څکه خو تبسم "و یورپ ته یوه وینا"، "یوولسم ستمبر په یورپ کې" او "قدر مشترك" غوندی نظمونه لیکی. عارف تبسم دلته یو بل نظم "ګلیډیټر" تر عنوان لاندي وړاندي کړے دے. په دې نظم کې د تاریخ و هغه توره ورځ او دور ته اشاره سوې ده چي باچهانو به څني مریان د پهلوانانو په تورو او چړو باندی یو د بل مقابله کوله، چا چي به برے وموندو هغه به ګلیډیټر ګڼل کېدو، د دغه Coloseum اثار اوس هم په روم او مراکش کی لا موجود دي:

بس د یوه اعزاز ګڼلو په نیت
د څه دولت را غونډولو په نیت
د خپل طاقت ښکاره کولو په نیت
د باچهانو سات تېري دپاره
د څو آقاوو د هوس له وجي
څومره مریانو دلته سر و بایلو
څومره سرې ویني دلته خاوري سولې
څومره خوبونو دلته سا ورکړله

د عارف تبسم د شاعرۍ په حواله دغه څو کرښي ما په دې نیت ولیکلې، چي لیکوال او لوستونکي د ده د شاعرۍ و بین السطور

ته په خپل نظر وګوري، او خپله رايه په خپله جوړه کړي، زما دپاره که څه هم د ګرد کلام احاطه څه ګران کار دے، خو دا څه اشعار مې ولوستلو او د هغه په اساس مې ځانله لاز جوړه کړه، زه دا دعوه نه لرم، چې تر چا ښه او تر چا کم شاعر دے او نه دا دعوه لرم چې د ده په کلام کې به يو مخ فني معايب ګرسره وي نه، د ځنو تشبيهاتو، استعاراتو او قافيو پرله پسې تکرار، يا يوه نيمه فني خامی شايد بله هم وی ، البته دومره قدر ضرور وايم، چې عارف تبسم د خپل وخت يو ژوندے شاعر دے د هغه شاعري د روان ژوند ، ټولنيزو حالاتو او انساني تمدن په حقله د افاقيت نمونه ګڼلے شو، دا په دې چې د پوهانو په خيال هغه ادب د افاقيت د علمبردارئ جوګه ګرځيدے شي په کوم ادب کی چې د ملي او بين المللي حالاتو په تناظر کی د فني او جمالياتي اقدارو په تړون جديد مسايل او موضوعات را نغښتل سوي وي، همدغه کار په خپل کلام کې عارف تبسم تر سره رسولے دے بلکه هغه د يو طناز په انداز "د لمر پل" د علامت په اړه د څراغ په رڼا کې غواړي او همدغه يې خواري او کار دے، په کار دے چې مونږ او تاسو ټول "د لمر پل" و رڼا ته ځان ور و رسوو او ويې ګورو.

په درناوي

سيد خير محمد عارف

سول هسپتال محله لورالايی

۱۲ مئ ۲۰۰۵ء

د خپلې شاعرۍ په اړه څو خبرې

زه شاعري څله کوم؟ دا یو ډېر ګران سوال دے. که څه هم کله کله زه پر دې باندې ډېر غور کوم خو څه باقاعده نتیجې ته نه رسېږم، البت دومره پوهېدلے یم چې شاعري څنګه پکار ده ځکه خو هرې خارجي واقعې ته زه د خپلې داخلي جذبې له لارې ګورم او چې څه لیکم له هغه څخه شعرونه جوړېږي. ګوا خوښ مې دا وي چې له مقصدیت څخه ډکه شاعري وکړم، داسې شاعري چې له انساني ژوند، مسئلو او حالاتو سره سمون وخوري او د مځکنې حقیقتونو اظهار وکړي. په دې کې زه څومره بریالے سوے یم په دې اړه نه خو څه دعوه لرم او نه څه فېصلې ته رسېږم بلکه دا حق و خپلو لوستونکو ته پرېږدم، خو دومره ضرور وایم چې ما په کوم دور کې شاعري پیل کړې ده او یا یې اوس هم کوم دا دور ته که څه هم د مادي ترقۍ معراج وئیل کیږي خو ما د دې ترقۍ هراړخیز اثرات محسوس کړي، لیدلي او کتلي دي چې په زیاتره حواله د انسانی نابرابري، ټولنیزي نا انصافۍ ، طبقاتي جبر او په غربت کې په تېزۍ سره له زیاتوب سره تړلي دي. ما د سوویت یونین شکست ور یخت، د سوړ جنګ خاتمه، د نوي نړیوال آرډر ابتدا ، د تهذیبونو تر میان د مصنوعي جنګ پیدا کولو هڅې، د ګلوبلائزېشن منفي اغېزنې، ځان وژنې بریدونه او نور داسې ډېر حالات او واقعات د خپل شعري سفر په دوران

کــي لیــدلي دي. او د دې پــه نتیجــه کــي مــي پــه نــړۍ بانــدي پــه نــوي شــکل کــي د کنټــرول تــر لاســه کولــو هلــي ځلــي لیــدلي دي. زمــا دننــه شــاعر پــر دې حــالاتو او واقعــاتو چــپ نــه دے پاتــه ســوے ځکــه د دې حــالاتو او واقعــاتو خــلاف زمــا انــساني احتجــاج پــه یــو نــوي شعري رنــګ کــي ځــای پــه ځــای زمــا پــه شــاعري کــي موجــود دے، خــو البــت د دې هــر څــه بــاوجود چېــري هــم زمــا اظهــار د یاســیت، مایوســي او نااُمیــدي بڼــه نــه ده خپلــه کــړې بلکــه هــر وخــت ئــې د یــو نــوي اُمیــد لټــون کــړے دےاو دا ځکــه چــی زه د انــسان پــه جبلــي او فطــري صــلاحیتونو او حقیقتونــو پــوخ یقــین لــرم. زه دا ایمــان لــرم چــي الله تعــالٰی پــه هــر انــسان کــي د نېکــۍ، ښېګــړي او آزادۍ مــاده ایښــې ده. نــن کــه انــسان د شــر، بــدۍ او ظلــم پــه لار روان دےپــر هغــه بانــدي د ټــولنیز تنــاظر اثــرات پراتــه دی، چــی لــه هغــه څخــه د را وتلــو او پــر خپلــو جبلــي صــلاحیتونو بانــدي یقــین پیــدا کولــو ضــرورت دےاو دا ضــرورت هغــه وخــت پــوره کېــدلے ســی چــی پــر دې جبلــي حقیقتونــو بانــدي زمــوږ یقــین وي او د دې د بېرتــه را بېــدارولو یــو اُمیــد وي، ځکــه چــي زه خپلــي شــاعري تــه ګــورم نــو ماتــه دا اُمیــد ځــای پــه ځــای ښکــاره کېږي. هــم د دې دپــاره خــو مــا "د لمــر پــل" را اخــستے دےاو پــه دې لټــون یــم چــی پــر انــسانی ژونــد بانــدی د دې خــورو تیــارو پــای چېري دےاو سهار چېري را خېژي؟

پــه "د لمــر پــل" کــي زه لــه خپــل ټــول شــعري حقیقــت ســره موجــود یــم. څــه چــي زمــا شــاعري وائــی هــم هغــه زه یــم او زه چــي څــه

یم هغه زما شاعري وائی. زما دننه موجود شعري صلاحیت، زما د سوچ، شخصیت او نورو صلاحیتونو روزنه کړې ده. خو دا هم یو حقیقت دے چې زما شعري صلاحیت هغه وخت نور هم را ببداره سو چی کله په سیاسي توګه د خپلی طالب علمی په دور کي ما منډه ترنډه کوله او د خپلي شعوري ناپختګۍ باوجود مي د حق آواز پورته کولو، له جماعتي سیاست څخه د لېري کېدو پس د ادبي ملګرو قربت او په ټولنیز حواله د خلګو د خدمت جذبې زما شاعري په ابتدا کی و روزله. او زما و خیالاتو ته یې وسعت ورکړو خو هغه وخت د څه وجوهاتو له کبله زه له ادبي دنیا څخه څه لېري هم سوم ځکه به لوستونکي "د لمر پل" کي زما د ابتدائي دور ډېر کم کلام ووینـي، بلکه په میان کی څه اووه کاله خو زما شاعري د نشت برابره ده. که دا ووایم چی څه اووه کاله ما له سره شاعري نه ده کړې نو به غلط نه وي. "د لمر پل" کي زما زیاتره شاعری د سن ۱۹۹۹ء پس تخلیق سوې ده. د دې وجه شایدداده چي په دې دور کي زه له یو داسي اداري (اي ډي ایس پي) سره منسلك سوم چي هغه د نړیوال حالاتو او واقعاتو په اړه زما دننه موجود ګرځجن تصویرونه صفا کړو. چي هغه زما د شعري صلاحیت د ببرته را برسېره کولو پیلامه وګرځېدو. په دې اداراه کی ماته دا موقع په لاس راغله چی زه نه یوائی نړیوال حقیقتونه و سنجوم بلکه و نورو ته یې هم بیان کړم. که څه هم د دې تراخو نړیوال حقیقتونو د را برسېره کولو دپاره ما د نثر لاره خپله کړه خو په

شعوري او لاشعوري توګه هغه حقیقتونه زما د شاعري برخه هم وګرځېدو، ځکه کېدے سي چې لوستونکي زما په شاعري کې هغه تراکیب، خیالات، انداز او بیان نه وویني چې په روایتي توګه د هغه بغېر شاعري، شاعري نه ګڼل کېږي ولې چې د حُسن و عشق بیان، د لب و رخسار تکرار، د وصل او هجر کیفیت، د زلفو او سترګو ستائینه، د مے او جام خوندونه او نور ډېر داسي تراکیب او له دې سره تړلي خیالات زما په شاعري کې یا خو سته نه او یا بیا په اوړو کې د مالګې برابر دي. د دې په پرته زما په شاعري کې د مینې او خپلوي لټون، د لمر رڼا او د سهار تکل، د تیارو غندنه، د تاریخ بدبختي، د انسانانو حقیقت، له خپلو روایاتو سره ټینګ تړون، له خپلي خاورې او مځکي سره کلك تعلق او یو نوے اُمید په وار وار ذکر سوے دے او هم دا زما د شاعري حقیقت دے.

نن چې زه خپله شاعري "د لمر پل" په بڼه کې و پښتو مئینو ته وړاندي کوم نو دننه دننه ډېره خوشحالي هم محسوسوم. نن هم زه هغومره خوشحالي محسوسوم لکه څومره خوشحالي چې ما په یو یو شعر لیکلو کې محسوسه کړې ده، ځکه زه دا ټوله خوشحالي له خپلو لوستونکو سره شریکوم. هم دا زما دپاره لویه خبره ده چې د شاعري له لاري زما خیالات و لوستونکو ته و رسېږي. اوس له دې خیالاتو سره اتفاق او اختلاف، د دې ستائینه او غندنه زه د هر لوستونکي حق ګڼم، لکه څنګه چې دا خیالات، خپله تجزیه او

فکـر شـعر کـول زمـا حـق دے هـم دغـسي لـه دې سـره اتفـاق او اخـتلاف د هـر لوسـتونکي حـق دے او زه بـه د لوسـتونکو و دې حق ته هر کله په ورین تندی هرکلے وایم.

تـر دې لـه مخـه چـي زه "د لمـر پـل" او لوسـتونکو لـه میانـه ووزم، غـواړم چـي د هغـو مـشرانو، دوسـتانو او ملګـرو مننـه وکـړم چـي د چـا پـه مرسـتی نـن "د لمـر پـل" تـر تاسـو در رسـي. تـر ټولـو لـه مخـه زه د خپلـو مـشرانو اسـتادانو، ورونـو او دوسـتانو سـعیدګوهر او سـید خېرمحمـد عـارف د زړه لـه کـومي مننـه کـوم چـی دوی نـه یـواځی زمـا پـر اولنـي شـعري زیـار بانـدی لیکـل وکـړو بلکـه پـه ډېـرو فکـري او فنـي حوالـو یـې زمـا لارښوونـه وکـړه. هـم د دې دواړو مـشرانو پـه ګټـورو مـشورو "د لمـر پـل" ترتیـب سـو. زه د تمثیـل حفـصه (چـي د سـعیدګوهر لـور ده) ډېـره زیاتـه مننـه کـوم چـا چـي د خپـل تخلیقـي صـلاحیت لـه لاري پـه ډېـره مینـه د دې مجمـوعې ټائټـل را جـوړ کـړو. د لیـك دود د سـموني پـه اړه د خلیـل بـاور او د سـریزو د کمپـوزنګ او ډیـزائننګ پـه اړه د بـارکوال میاخېـل ډېـر مـشکور یـم. لـه دې سـره سـره زه د ډاکټـر قـراۃ العـین بختیـاري او خپـل ډېـر خـوږ دوسـت او فکـري اُسـتاد واصـف رضـوی هـم پـه وار وار مننـه کـوم د چـا پـه جـوړ کـړي ګنجـائش آئـي ډي ایـس پـی کـي زمـا فکـري روزنـه وسـوه. زۀ وخپلـو ملګـرورازق فهیم،ارسـلاخان کـاکړ اوسـلطان زخپېـل تـه هـم تـشکروایم چـي هروخـت یـې زمـا حوصـله افزائـي کـړې ده . زه د خپـل پـلار حـاجي شېرافـضل هـم مننـه کـوم چـي نـه یـواځي هغـه

تــه راتلــونکي اخبــارونو او رســالو پــه مــا کــي د لوســتلو او ليکلــو شــوق او دلچـسپي پيـدا کـړه بلکـه هغـه کلـه هـم د يـو روايتـي پـلار رنګـه زمـا او زمـا د شـاعري تـر ميـان د ديـوال درولـو هڅـه نـه ده کــړې. پــه آخــر کــي زه د خپلــو ټولــو ادبــي ملګــرو، دوســتانو او مـشرانو مننـه کـوم لـه چـا چـي مـا ډيـر څـه زده کـړي دي او پـه خپلـه شاعري او ژوند کي مي په کار راوستلي دي.

زه هيلــه لــرم چــی لوســتونکي بــه پــه ډيــر غــور "د لمــر پــل" ولـولي او پـه راتلـونکي وخـت کـي بـه زمـا رهنمـائي وکـړي. خـدای دي و مــوږ ټولــو تــه لــه خپلــي خــوږې ژبــي پښتــو ســره د مينــی او خدمت جذبه راکړي. آمين

عارف تبسم
بورے، لورالائي
۱۹ مارچ ۲۰۰٦

○

نن په حق چي زهٔ پوهېږم محمده!
ستا په نوم پېژندل کېږم محمده!

ما د ميني هر سبق له تا زده کړے
تر دښمن هم زهٔ جارېږم محمده!

ستا په لار که پټي سترګي زهٔ روان يم
تر منزله به رسېږم محمده!

ستا په ذکرسره نور، رابانددي اوري
په تيارو کي نهٔ ورکېږم محمده!

ستاله رویه د هرچا په غم شریک یم
د هر چا په غم دردېږم محمده!

ستا نسبت تل حوصله راکوي ماته
زۀ له هیچا ، نۀ وېرېږم محمده!

تردې زیاته خوش بختي به نوره څه وي
ستا په نوم نن هم یادېږم محمده!

کوټه
۱۸ ،اکتوبر ۲۰۰٤ء

○

په خپل خزان ژوند کي سپرلے پالمه
ګل يم له ځان سره ازغے پالمه

ستا په غم زۀ په ځان کي ود ړد بېړم
خپله سينه کي ستاز ږکے پالمه

هر وخت له ما سره په جنګ اخته وي
په ځان کي څه رنګه سړے پالمه

خپلوى او مينه مي فطرت ځکه ده
په خپله وينه کي بورے* پالمه

نـﺉ بدلـــومـــه د بـــابـــا قـــدرونـــه
خپـــلـــه دری، خپـــل نغـــرے پـالمـــــه

چيـري بـــه بيادحـــق اذان پـــورته کـړي
پـــه زړۀ کـــي تـــل بلال ژونـــد ے پـالمـــه

پـر شـــونـــډو بـــانـــدي تبســـم نـــه لـــرم
بـــې تــــا ژونـــدون لكــــه نيـــمے پـالمـــه

کوټه
۰٤، جنوري ۲۰۰٤ء

* بورے = لورالائي

○

خاوره د سرو وینو له رنګه ګورم
دا خپله مځکه زۀ له جنګه ګورم

ترنغمه باره بڼغ و تلے نه یم
ځان دي د شنوبنګړو له شرنګه ګورم

تندے په خاورو لګومه ځکه
دا خپل سپیڅلے زړۀ له زنګه ګورم

یم په رڼا باندي مین پخپله
څه به له اوره تا، پتنګه! ګورم

زۀ چي مين په کاڼو نه ولمه
د غالب رنګه سر له سنګه ګورم

زما تبسم ورک په ښائست پسي شو
اوس به يې چيري ستا له څنګه ګورم

کوټه
۱۶،جولائي ۲۰۰۱ء

دوه شعرونه

عشق به دي عارفه له ژوندي قطاره وباسي
تا به د غالب رنګه له هره کاره وباسي

يو واري بس يو واري خپل ځان راتولول غواړم
خبر دے که مي بيا خلک دا ستاله ښاره وباسي

بورے - مارچ۲۰۰۳ء

○

څه خلک بیادمرګ له کاره سره لوبې کوي
دخپل لستوني له ښاماره سره لوبې کوي

موږ په ښکاره لګیایو مینه او خپلوی خوړو
ځوک پټ لګیادي،زموږ له ښاره سره لوبې کوي

موږ به په شپه هم لکه ورځ، سپینه رڼا خوَروو
تیارې که هرڅو له سهار سره لوبې کوي

ماخوله هرچاسره مینه او اخلاص کړې دے
خلک مې ولې له دستار سره لوبې کوي

حق مي هم خوري، په غريبي مي هم ملَنډي وهي
ځکـه پـه سـر مـي لـه دينـا ره سـره لـوبي کـوي

خپل لارښوونکي موکاروان مخ ته په لارنه پرېږدي
زموږلـه خواريو ،زموږلـه زيـا ره سـره لـوبي کـوي

لـه مرګـه نـه وېرېږي، کـړي دحـق خبـره پـه جـار
تبـسم ځکــه خــو لــه دا ره ســره لــوبي کــوي

کوټه
۰۷ ،مارچ ۲۰۰٤ء

٥

مـه ځـه نـور پـه دغـه لاره، سـتړے کېـږې
زماخبرومنـــه يـــاره! ســـتړے کېـــږې

ويـدۀ خلـک ويـښول سـتا پـه وس نـه دي
کښېنه ګرانـه! پـه کـراره، ستړے کېـږې

په خپل کلي کې بـه ښـۀ پـه سکون اوسې
غواړې څه له پرېدي ښاره، ستړے کېږې

پـه ځـان جبرو کـړه ،اوسـه پـه تيـارو کـي
ډېـر مـزل شـتـه تـر سـهاره ،سـتړے کـېـږې

ستا په خلهٔ مو، دا سفر وو، قبول کړے
تهٔ پر لاره وار بې واره سترے کیږې

زهٔ خوشومه دا ظهار په تکرار سترے
تهٔ به کله له انکاره سترے کیږې

دراتلو وعدې تر ننه وفا نهٔ شوې
له دې سترې انتظاره سترے کیږې

تبسم په نوم د مینې خطا باسې
تهٔ به کله له دې کاره سترے کیږې

اسلام آباد
۱۷، فروري ۱۹۹۳ء

○

خـود بـه سـپېرهٔ کېږي، بـاران نـهٔ لـري
زمـوږ بـې وزلـه مځکـه اسمان نـهٔ لـري

خلـــګ لـــه دې دشـــته وېرېـــدلي دي
مـخ تـه سـفر غـوارې، کـاروان نـهٔ لـري

زهٔ پـه دې سـپېرهٔ منظـر عـادت نـهٔ يـم
دا خنګـه سـپرلــے دے، ګـلان نـهٔ لـري

هيلـه مـو بيـا هـم لـه رڼـا نـهٔ خېـزي
پـای ددې تيـارو کـه امکـان نـهٔ لـري

ځو، کــه لــه هرڅــه څخــه محرومــه دي
زمــوږ د کلــي خلــګ ارمــان نــۀ لــري

اوسي په کيږدۍ کي، مجبوري يې ده
چيري به ځي څوک چي مکان نۀ لري

پرېـــږده تبـــسمه! نفرتونـــه تـــول
مينـــه کوه، مينـــه تـــاوان نـــۀ لـــري

بورے
۱۹۹۳ء

O

یــم نــاخبره چــي بــه کلــه مــاتوي ملګرتیــا
کــړي بــه لــه ماســره ترکومــه زنــدګي ملګرتیــا

ګرم دي نهٔ بولم، کـه هرڅومره رانـه لیـري تـښتې
کــړې ده چاپــه دې جهــان د لېــوني ملګرتیــا

دنیمــي لاري یــاري نــه مــنم پــښتونه یــاره!
کـه کـړې لـه ماسـره، نووکړه پـښتني ملګرتیـا

بېلتونه! تهٔ به څهٔ مونده کړې په دې وران کلي کي
مــه مــاتوه تــهٔ د زړګــي اودزړګــي ملګرتیــا

یـوائي نـه یمـه پرڅنـګ مـي دا بـې وسـه سـایه
کــوي لــه ماسـره پــه ډېـره خاموشــي ملګرتیــا

شـــومه بـــاغي ددې دنیـــا لـــه رواجونـــو څخـــه
نۀ کړي هیڅوک هم په دې لاره زما بېخي ملګرتیا

کــه څـۀ هـم ضـد دي یودبــل، خو تبـسمه! ګــوره
څــومره پخــه ده د ګــلاب اود ازغــي ملګرتیــا

بورے
۲٤مارچ ۱۹۹۱ء

O

تـهٔ چـي مرورشوې، مرورشـوله ماخپـل نـصيب
لیـري رانــه ولاړو ،بیاوشــاته نــهٔ کتــل نــصيب

هسي خود ے ټينګ تړون دميني زمااوستاترميان
خداى خبرچـي يُوبـه او کـه نـه موږدیَوبـل نصيب

اې غوټۍ!غوړېږه مه دميني سپرلے خور نهٔ د ے
دلته د ے لـه خاوروسره خـاوري دهر ګل نصيب

ګـوره لــه ازلــه مــي پــه برخــه لیــک غمونــه دي
ځکـه خولـه ماسره هيڅکلـه نهٔ شو مـل نـصيب

مـه کړه تبـسمه! هـسي خوشي ګيلې مـه کـوه
نهٔ د ے رسېدلے و منزل ته پـه پښو شل نصيب
بورے

۱۷مئ ۱۹۹۱ء

O

رڼاخوره کړم چې هر چیري قدمونه ږدمه
ومخ ته ځمه اوپه لاره څراغونه ږدمه

ستایوه مینه دځوانۍ په بیه واخیسته ما
نوربه دژوند دورځوشپو څۀ حسابونه ږدمه

تېرۀ ازغي به هم له ځان سره په مینه وړمه
که په نظرکي خپل منزل زۀ سرۀ ګلونه ږدمه

زۀ له سختروئۀ وېرېږم، حوصله لرمه
ترتابه رسم، که په اورکي هم ګامونه ږدمه

یــوار بــه بیادتیــاروتهولي پــردې وشــلومه
پـه دغـه مځکـه بـه بنیادسـتا سـباوؤنه! ږدمـه

مـاتهولي لیکـي دقـسمت پخپلـه ورانـي کړلـې
اوس به په خپل بې وزله زړۀ خالي لاسونه ږدمه

چـي یـې دژونـد نـوې معنـا مـا تبـسم تـه راکـړه
خوندي* به ستا له میني ډک هغه لیکونه ږدمـه

کوټه
۱۴ جون ۱۹۹۹

* خوندي = محفوظ

O

تـهٔ چـي را یاد شـوې زُمـا یـاره! غـزل نـوې لـیکم
یــوواري بیــانن ســتا دپــاره ! غــزل نــوې لــیکم

پـه تـوره شـپه کـي دالهـام ستوري رااوري پـه مـا
قـصد مـي دے کړے،ترسـهاره غـزل نـوې لـیکم

خبـري اوس لـه ځـان سـره پـه شـاعري کـي کـوم
یمــه روان پــه خپلــه لاره، غــزل نــوې لــیکم

بیا دي لمبه راپورته شوه دبوریـوالي میـنـي
راغلـے یمـه سـتا ترښـاره، غـزل نـوې لـیکم

دروزګـارغم لـه هـره کـاره ښخـه وايـستمه
له مودو پس يم په قراره، غـزل نوې لـيکم

مځکه دي هروخت د اظهارنوي ګلونه کوي
ښکه هوا دي ده کوهاره*! غـزل نوې لـيکم

زۀ تبسم ستا دکاروان مل يم لـه ډېره وختـه
ځکـه خـونن عـارفـه* يـاره! غـزل نـوې لـيکم

بورے
٠٤فروري ٢٠٠٤ء

* کوهار = دلورالائي يو غر
* عارف = سيدخېرمحمدعارف

O

څراغ راواخلو، په تیاروکي په منزل پسي ځو
موږ تولـه شپه لټون کوؤ، دلمر په پل پسي ځو

زموږلاربښوونکوزموږدزیاروقدر نـه دے کـړے
ځکه خوخپل کاروان پرېږدو اوموږ په بل پسي ځو

دخوشبوي دښمني ګرانـه شوله دومره چې اوس
د پسرلي د جنـګ دپاره موږپـه ګل پسي ځو

دراست روي هیلـه بـه اوس لـه ځانـه څنګـه ساتو
درُخ ملګـري یُو، خوسـتادزلفو ول پسي ځو

شـايد چي خلـګ لـه ايمانـه څخـه سـتړي شـولو
اوس په ښکاره ناريږ وهي چي موږ په غـل پـسي ځـو

ديـوې کونډې ماشـومان پـه سـپېدو پـورتـه شـولو
وائـي مـورکۍ موږ دا تـامو پـه تکـل پـسي ځـو

چاوشـــړلې خوشـــحاليانې لـــه دې ښـــاره څخـــه
کـه خنداغواړو ،تبـسم سـره بـه مـل پـسي ځـو

کوټه
۱۵جولائي ۲۰۰۱ء

○

ماچي له ځانه سره ږدي، ترځان مي کم و نیسي
شکر دے خدایه! له جهان سره مي سم و نیسي

زړهٔ چې یې کله اراده زُما پر خوا کړې ده
فکر یې یوسي، ځکه ببرته خپل قدم و نیسي

چي له تخلیقه یې مُنکِر شي، آزادي ورکوي
موږ په قصور دڅو غنمو هغه دم و نیسي

بسکلا چي کله هم له خپلي دائرې راو زي
زړونه خوارهٔ شي، هره لاره، هر یو چم و نیسي

يار چې يې هر کله وَډر* شي له نظره څخه
سترګې ګرځجنې شي،له خپلوبڼو نم ونيسي

زُما دبخت دکتاب سپينې پاڼې ګورې په ځير
چې اراده يې دليکلو شي،قلم و نيسي

دوخت له جبر سره څنګه عارف ژوند تېروي
ر شونډوخور کړي تبسم، په زړهٔ کې غم ونيسي

کوټه
۱۰اګست ۲۰۰۱ء

* وَډر = پټ

O

بیا بـه خوارانـو ګیلـې څـهٔکولې
کـه وای رښا ،دوی بـه شـپې څهٔ کـولې

دا بـــه ضرورد چادجبرښــــکار وي
ګنــي دا خلګــو تیــارې څـهٔ کـولې

دیو ظــالم لــه لاســه لیــري شــولو
موږبــه ترمیــان فاصلې څـهٔ کـولې

هلتــه تــول ښــارزُماخلاف ؤپـورتــه
هلتــه بــه مــا فیــصلې څـهٔ کــولې

کشکې زموږ خپل کاروان بې لارې مه وای
موږ به د بل قافلې څه کولې

منم له لمره مې پناه غوښتله
ما دوریځو سایې څه کولې

که له حالاتو څه مجبوره مه وای
ما تبسم دا رشتې څه کولې

بورے
۲۵جولائې ۱۹۹۲ء

لـــه تبـــسّمه يـــې وفا غوښـــتله
يار عجيبـه غونـدي سودا غوښـتله

مـــا دټول عمر دعـــوه نـــۀ كولـــه
ما د يو څو لمحو خندا غوښـــتله

چاچي پر دوئ باندي تيارې راوستې
دوئ لـــه هغـــۀ څخـــه رڼا غوښـــتله

څوك چي وماتـه خنـدني ښـكارېدو
پـــه حقيقـت كـي يـې ژړا غوښـتله

چاراتــه وویــل چــي خلــک وائــي
لمرلــه ســپوږمۍ څخــه رڼاغوښــتله

هلتــه مــي ټولي حوصلې سترې شوې
حقیقــت ژبــه د رښــتیا غوښــتله

بورے
۳۱جولائي ۱۹۹۲ء

یوردیف دوهٔ شعرونه

دنــن مــین ځــان دخپلــوي لــه درده ژغوري، ځکــه
کــوي اظهــاردنفرَتو ،مینــه پــه زړهٔ کــي ســاتي

زموږلارښوؤنکي ټوله ورځ تــر لمرچاپېره ګرځي
ځــان تــه رڼاراټولوي،موږپــه تیــاره کــي ســاتي

کوټه
اپریل ۲۰۰۳ء

O

لمحــې د تېرعمرد ژونــد لــه مــاه وســاله وزي
ځکه ښائست او خال وخد دي، زماله خيا له وزي

ستاد سپين مخ په ويړ اسمان باندي خوارهٔ وارهٔ شي
ســتوري دا ستاد ښائــستې زنــي لــه خــا لــه وزي

سينه د مځکې وچه شوله،اوس په چيغـووائي
زُماوجود بــه کلــه خدايــه! لــه ډوکــا لــه وزي

مـه کـوه ، پرېږده زياتـه تـهٔ نـور موسـوي ضـدونه
زُماديارپــه ليدوهرســړ ے لـــه حــا لـــه وزي

په روایاتو د پرون خلک ښه ټینګ ولاړ دي
په ډېره ګرانه به دوخت تردې د ېوا له وزي

تاچي به شپه ورځ، له هر چا څخه په پټه ګنډل
زُمادنوم هغه تارونه له د سما له وزي

تهٔ بې* تر څو د خپلو زلفو بندیوان وساتې
آخر یو ورځ به تبسم له دغه جا له وزي

کوټه
۲۹جولائي ۲۰۰۱ء

* بې = د به یې مخفف

O

دخوشحال رنګه تبسم هم مسیحا نهٔ مني
عجب ملنګ دے، دمنت دارودوا نهٔ مني

جنګ له هوا سره کوي، خودابدبخته خلک
ډیوې کړي بلي په تیاروکي، خورښا نهٔ مني

موږکه خبره دخپلوی کوؤنو خلک وائي
پرون پرسته دومره زیات دي چي سبا نهٔ مني

منم له تا سره مي مینه انتها نهٔ لري
خوتیتېدهٔ مي د پښتون فطرت بِنا نهٔ مني

تـردې بـه زياتـه بـدبختي دوخت لانـوره څـۀ وي
خلـګ پـه تـا پـسي روان دي، بيـا هـم تـا نـۀ منـي

شـايد پـه خپـل حق خبرشوي دي دا خلګ، ځکـه
اوس دخوبونودا خـستلو هــيڅ سـودا نــۀ منــي

يَـوواري بيادتبـسم زړۀ پـه ښائـست پـسي ځـي
خداى خبر څوک به يې راګرځوي، دچا نۀ مني

کوټه
۰٤جون ۲۰۰۰ء

○

يومئين په بوئ، خواهش د ګل کوو
ځکه په ازغوباندي مزل کوو

لمراو سپوږمۍ ستا په سپين تندي غواړو
ګَرد ستورو موږ ستا په اوربل کوو

ځان موستاله خياله هوسا* کړے دے
غم به دي دزلفو ځنګل کوو

غړي به ودشت ته اچوؤ په څه
ځوبه مخ ته نور، ياره! توکل* کوو

سوځي په کشمیر او فلسطین زړونه
ویر به لاترڅو موږ په کابل کوو

چیري به خپلوي او مینه و مومو
موږ له یوۀ عمره دا تکل کوو

موږ خپل تبسم بې قدره کړے دے
قدر که کوو ،نو موږ د بل کوو

کوټه
۲۶جولائي ۲۰۰۱ء

* په علاقائي لهجه کي تَوکل ته توکل وائي
* هوسا = دمه، خودلته په معنا د بې غمه دے

O

دا ســـرمايه د زنـــدګي ســـاتمه
ستادلاس هرليک به خوندي ساتمه

رايادوي به دوصال ورځي شپې
توکري*پټ ستا دبنګړي ساتمه

پـه نيمـه لار دي يکـړ*پرېښوؤمه
ياده بـه ستا دغـه دوستي ساتمه

غمونه د ېرشو دروزګار خوبيـاهم
ستاغم زۀ ځومره په خـواري ساتمه

څوک د ناړو لیکلو حق نه لري
زۀ خپل د پوال غېږ سیاسي ساتمه

له چا نفرت زُما عادت خو نه دے
زړۀ کي عناد له مجبوري ساتمه

ډېره شوه ګرانه دهوا دښمني
څنګه به خپل څراغ خوندي ساتمه

بورے
۰۲مئ۱۹۹۳ء

* توکري = ټکرې، ټوټې

* یکړ = یوائې

O

کـــولـــــې نـــه شـــمه دمينـــي داظهـــار فېـــصله
ماتـــــه ده ګرانـــــه داقراراودانکـــــار فېـــــصله

وړمـــه زاړۀ پلونـــه، پـــه دالاره بېـــا نـــه راځمـــه
ماتـــه پـــه سرســـترګو قبولـــه ده د يـــار فېـــصله

شايدچي بيا به ټوله شپه زۀ په تيارۀ کي اوسم
پــټ شــوي لمرکړلــه محفوظــه د ســهار فېــصله

په خپله خاؤره با ندي خپله خوښه کړې ده موږ
کلـــه مـــو هـــم منلـــې نـــه ده، ددربـــار فېـــصله

له خپل تاریخ سره قدرونه خپل ژوندي ساتمه
لــه نرخــه نــه وزم، پالمــه دبــازار فېــصله

کلــه بــه هــم نــه ســپمومه ځــان دعــشق لــه لاري
وس بــه کــوم، پر مــخ بــه وړمــه ددلــدار فېــصله

کوټه
۰۴ جولائي ۲۰۰۴ء

دوۀ شعرونه

ځـــان تـــه رڼاراټولومـــه اوآبادبـــه وزم
مـــزاج دلمرلرم، دتوروتیاروبعدبـــه وزم

تاپـه خپـل لاس دغلامـۍ پـه حوالـه کـړم ببرتـه
زۀ هیلـه مندومـه چـي داځلـي آزاد بـه وزم

کوټه

جون ۱۹۹۸ء

○

عجبه خلک دي احساس چي دخپلوئ نه لري
ومورته شوي دي خوزموړپه شاني خو ئ نه لري

موږ به دعوه ستاددوستۍ سپرليه! کړې وله
خوستاګلان ستااحساس رنګه خوشبو ئ نه لري

له رواياتوڅه مخ ګرځوي، په مخه چي ځي
مينه، خپلوي د "پروني پلار" د "نن زو ئ" نه لري

کوفي ښائست په نوم د ميني ځکلولي دي ډېر
حُسبني زړونه نورباورزياته په دو ئ نه لري

دادعوه مه کوه چي ستاپه شان حَسين به نه وي

ګل نازکي، سپوږمۍ ښائست څه ستا له رو ئ نه لري

ترتابــــه هــــم د تبــــسم فکــــر د رور ســــبږي
نظراو چت لــري،لاســونه کــه څــه لــو ئ نــه لــري

کوټه
۱۰مئ ۲۰۰۱ء

دوۀ شعرونه

خلګويوړو،ښــــه پــــه لــــوی زړۀ ځراغونــــه
ماتــــه پاتــــه شــــولوټول مــــړۀ ځراغونــــه

دتيارو بــــدي* مــــي نــــوره پــــه وس نــــه وه
ننــــواتي تــــه مــــي وَروړۀ ځراغونــــه

* بدي = دښمني

تضاد

ازغن فطرته خلګو
څنګه عجیبه غوندي
خویونه خپل کړو
رنګونه واغوندي
او لاړ شي
په ګلانو ګډ شي

کوټه
۲۹جولائي۲۰۰۱ء

؟

زما ذرۀ او زما ذهن
ترما ښه ګوره څنګه
عجيبه شان جنګ روان دے
زما ميني په بابت نن
ذهن وائي يک طرفه ده
زړۀ مي وائي داسي نه ده

بورے
٠٤ مارچ ١٩٩٢ء

اې د فکر سپینه لمره!

(د حمزه بابا په حقله)

اې د فکر سپینه لمره!
ستا دفن په تار پېیلي
د فکرونو ملغلري
زمونږ ورثه ده
زمونږ تهذیب روښانه ښکاري
ستا دفن په آئینه کې
زمونږ کلتور ځلانده ښکاري
ستا په فکر وفلسفه کې

غرور

اې زُما د خوښي حُسنه!
ده په تا ولي مغروره
هغه پېغله
چي يې زه، هم
ځان ګڼم خپل
هم جهان خپل

بورے
۱۹۹۲ء

سایې

په ځومره هیله
ساده خلک واسمان ته ګوري
غواړي په ټکنه غرمو
له سرولمرونو ، سایې
که څه هم دوئ په دغه بنه خبردي
چي یوهٔ توره او اوږده شپه
راروانه ده بیا
ځکه اوږدیږي وارپه وار
ددېوالونو سایې

بورے
۱۵ اګست ۲۰۰۱ء

ډوکال

ما چي خپل غوږ مځکي ته ونيوؤ
نو وامي وربېدو
چي مځکي خپله وچه کلکه سينه
په زوره ووهله، چيغه يې کړه
چي اوس مو ستا اوبو ته
هيله ده اې شنه اسمانه!
ولي چي دلته يزيدانو
سمندرهم کړئ په زوره قبضه

بورے
۱۵ اګست ۲۰۰۱ء

○

لــه خپلــه قــده راوتلي، پــه جهــان خــوارۀ شــو
دســتورورنګه پرتنـدي دخپـل جانـان خـوارۀ شـو

که دُوړي هم شومورېله خاوري تړون نه پرېږ کوؤ
پورتـه شـو سـتا لـه قدمونواوپـه ځـان خـوارۀ شـو

ګونګۍ وريَځوتـــه دګـــل دپـــاره ژبـــه ورکـــړو
پرمځکـه بانـدي پـه مثـال بيادبـاران خـوارۀ شـو

پـــه اراده خـــو ديَـــوۀ منـــزل وتلـــي ؤ ټـــول
پـه بېلـو لارو څلـه خلـګ دکـاروان خـوارۀ شـو

څوعجيبه غوندي مئين دګلو داسي هم شته
چي دسپرلي غوندي ټول عمر په خزان خوارۀ شو

درناګانو دعوېداريُو، په تيارو کي اوسو
څومره ګړځونه موپه زړونو، په ايمان خوارۀ شو

ترڅوبه ژوندموږتبسمه! په لېموکي کاوۀ
داوښکو څاڅکي شو، دپېغلي په ګرېوان خوارۀ شو

کوټه
۰٤مارچ ۲۰۰۲ء

○

زۀ په تور وشپو کي هم ورکېږم نۀ
لمريمه په دوؤګوتو پټېږم نۀ

مارښا کرلې ده په زړونو کي
زۀ اوس له تيارو څخه وېرېږم نۀ

ما خپل يو منزل و مخ ته ايښې دے
ځم، مزل کومه، ستړے کېږم نۀ

ژوندہ! ستا غمونه په خندا وړمه
اوښکه اوښکه يمه، خوڅڅېږم نۀ

هرڅوکـه خندونـه وي پـه لاره کـې
زهٔ خواباســـین یمـــه، دربږم نـــهٔ

لمرد خپل ښائست راڅخه لیري کړه
کـاڼےنـه یـم زهٔ، چـې بـه ویلېـږم نـهٔ

خاوري یم، لـه خاوروسره کړم مینه
زهٔ پـهٔ سپوږمۍ، سـتوروميـنېږم نـهٔ

کـــسّي دي دستر ګوتبـــسّمه! یـــم
اوښـکي یارانجـهٔ نـهٔ یم، بهېـږم نـهٔ

له شوګران تراېبټ آباد پوري په لاره
۱۲اکتوبر۱۹۹۸ء

○

دهـوا چي پـه خلـوص چـا يقين وكـړو
هـم دهغـه څراغونـه يـې ټـول مـړهٔ كـړو

تـوري شپې په لمرقبضه راخخه وكړه
اوس بـه كـډه موږپـه لوردلمرخاتـهٔ كـړو

زموږترميـان بـه فاصلې كلـه كميـږي
دبېلتـون ژړامـي كسّي هـم اوبـهٔ كـړو

تناوؤنـه د خېموپـه پـرې كېـدودي
په دې دشت كې به دځان ساتنه څهٔ كړو

وې ايـستم سـره لـه اوښـكو تبـسّمه!
ماخوځان ورته په ستركو كې رانجهٔ كړو

بورے

۱۹۹۲ء

○

بـل بـه شـي دميـنـي ځراغونه، څـه هلاکـه* ده
رڼـه بـه شـي دغـه دژوند خونه، څـه هلاکـه ده

دي کـړې وړې تـولي کـوځې دميني، پـام کـوه
اخلـه لړپـه خيال، تـهٔ قدمونه، څـه هلاکـه ده

بس په دې اُميد تېروم ژونـد لـه اند ېښنو سـره
تېرېـه شـي آخـرواړه غمونه، څـه هلاکـه ده

تېښته له مرګ نشته، خوتهٔ هم تازيله* مه کوه
لړصـبرلاوکـړه اې ژوندونـه! څـه هلاکـه ده

مه شکوه غوټې، تهٔ د سپرلي په پېـل کي مـه شکوه
دا غـوټې بـه پـای شي، سـرهٔ ګلونه، څـه هلاکـه ده

مینـــه موتـــازه ده،دومـــره زرموبېلـــوې ولـــي
څوورځي موپرېږده اې بېلتونـه! څـه هلاکـه ده

لَـوَظ يـې دےکـړے تبـسمه! درتـه رابـه شـي
ګرځې ولـي داسي بې سـکونه،څه هلاکـه ده

بورے
۱۰اکتوبر ۱۹۹۱ء

* څه هلاکه ده = څه تادي ده
* تازیله = تادي

O

مطلب دي څه دے وایه یاره! سم حساب به کوؤ
بدیمه زۀ که زُما لاره، سم حساب به کوؤ

کړودي په برخه زما غمونه، تۀ په کومه تبنتې
خلاصېدے نه شې بخته یاره! سم حساب به کوؤ

د دې دنیا په عدالت او په انصاف څه باور
په مخ کې ستا لویه بادا ره! سم حساب به کوؤ

کله خوزما پرخواهم راشه، دا تیارې رڼا کړه
زما او ستا څه ضد دے سهاره! سم حساب به کوؤ

مینه په لاره دیوهٔ بل مورږ تَللے نه شو
تهٔ راشه کښېنه په قراره، سم حساب به کوؤ

هلته ستاواک ؤ، فېصلې به ستا په خوښه کېدې
دلته زماواک دے ظلم کاره! سم حساب به کوؤ

ما تبسّم ستا هر ستم په پټه خُله سهلو
راووتم چې ستاله ښاره، سم حساب به کوؤ

بورے
۰۲فروري ۱۹۹۲ء

○

دے راتـه پـروت بیادفکرونوکتـاب
لولمــــه زۀ نـــــن دیادونوکتـــاب

پانهـه پـه پانهـه ستاوصـال ګورمـه
رااړوم د اُمیـــــــــــــدونوکتاب

زۀ بـه د غـم څـه تعریـف وکـړم درتـه
مانــه دے لــوســتے دغمونوکتــاب

زۀ هم په خوب کي ستاد رځم او که نه
دےستا پـه نـوم زمادخوبونوکتــاب

ورځ پــه ورځ اَړوؤ ،ورقــي دژونــد
زربــه شــي خــتم دعمرونو کتــاب

چي شي يادګار زُمـا اوسـتادميني
جــوړوم زۀ ســتاله خطونو کتــاب

زماد نصيب ليکني نه وي پکښي
مــادې کـــــتلې دبختونو کتــاب

بورې
۱۰فروري۱۹۹۲ء

O

سوځم، کبابېږم، د هجران په اورکي اوسمه
بیا هم سلامت یم که ژوندے په ګورکي اوسمه

ډېره خاموشي شي چې مې زړۀ ستا په نوم وغورځي
څومره شم یوائې، که څه هم په شورکي اوسمه

مه پټوه سترګې راته خلاصې دروازې کړه ته
زۀ له ډېره عمره ستا دزړۀ په کورکي اوسمه

وګرځه، ښائست که دې هرچیرې په نظرراغلو
زۀ به هم هَلَته* د یو چاښنګلورکي اوسمه

ستا مغل ښائست لـه آزادۍ راګـر ځـــولې يـم
ځکه خوشحال رنګه په دې رتهنبور کي اوسمه

ژاړي مځکـه، وائي زمـا سـينه چاوچـه کـړې ده
زۀ دلتــه دکـوم ظـالم يزيـد پـه زورکـي اوسـمه

زۀ يوتبـسـم بــه دچا ،چــا دزړۀ ســکون شـــمه
زۀ دچـــا پــــه زړۀ ،دچادســترګوتورکي اوســـمه

اسلام آباد
۲۷مارچ۲۰۰۱

* هَلَته = په علاقائي لهجه کي هلته ته هَلِته هم وائي

○

په لاس کي هرسړے چي تُوره او خنجر ګرځوي
ځنګه په خپلواوربوبا ندي خَلک سر ګرځوي

څوک شو له تندي مړۀ يَو څاڅکےيې نصيب نه شولو
څوک په ورغوي باندي واړۀ سمندر ګرځوي

برائي ټوله شپه تيارو په غونډ بدو تبره کړه
دريځا جنګ ته سهارولاړېي، اوس به لمر ګرځوي

د ښوغشي زمادزړۀ پرخوارا خلاص چي نه کړې
مخ به يې څوک نيسي او څوک به دا لښکر ګرځوي

ما ځیګرونه مود کلي اوس بې خونده شولو
نه پېغلي شته، نۀ څوک منګي پر وچ ګودر ګرځوي

څوک به دي خپل کړي څوک به زړۀ درباندي وسوځوي
هر سړے دلته په سینه کي ثابت غرګرځوي

تبسم بیا هم څهره خپله په خپل رنګ کي ساتي
څومره ګرځونه په هینداره دځیګرګرځوي

بورے
۲۲جولائي ۲۰۰۱ء

چي په لیدو یې زُماساه،له سینې سمه وزي
هغه نجلۍ اوس له خپل کوره ډېره کمه وزي

هره دُرخود نن،که غواړي ترپښولاندي زړونه
خوزماخیال دے چي کسات* بې* ترآدمه وزي

که دمنزل پرخواروان یم،زۀ یواځي نه یم
ګوره سَل پلونه زما له هر یَوۀ قدمه وزي

ویې کرلوبارودونه،زموږ پرمځکه باندي
خدایه! کوم فصل به دسروینو له نمه وزي

پام کوه څوک چي قلم نه کړي ستا دګوتوژبه
دېـري ترخـې خبـري نـن سـتا لـه قلمـه وزي

خدایـه! خـزان دتوروبـډو* رانـه لیـري ساتې
دلتــه لمرونــه لــه هرڅــاڅکي د شــبنمه وزي

څنګه به ژوند کړي تبسّم له سَل غمونو سره
چي دېر په ګرانه دخپل یار له یوهٔ غمه وزي

کوټه
۰۱جون ۲۰۰۲ء

*کسات = انتقام
*بې = دبه یې مخفف
*بډه = زیاته تیاره

O

ستا د ستر ګو تاب لرو، طاقت لرو
زور لرو، په زړونو کي قوت لرو

لېري ؤ منزل که تر امکانه هم
ځو به، حوصلې لرو، همت لرو

زموږ پر سترګو باندي پردې نه راځي
موږ په خپل نظر کي حقيقت لرو

وخت سره که نه ځو، لېوني نه يُو
سر کي يَو نشه د بغاوت لرو

ځان کې يو جهان آبادولے شو
زړۀ لرو، سينه لرو، وسعت لرو

هر څو لرا و بر که خوارۀ شوي يُو
بيا هم په خپل ميان کې يو وحدت لرو

نه شوۀ تبسمه! پته خلۀ پاته
حق وايُو، د حق خپلوي عادت لرو

کوټه
۳۰ اپريل ۲۰۰۱ء

○

ســـــــتادراتلوپه امیدونوباورنـــــئ دےپکـــــار
نــئ دےپکارســتاپه لوظونوباورنــئ دےپکــار

خـداځ خبرکومــه لمحــه راشـي دتیاروپــه زدکـي
پـــــئ رنګینیودښـــــارونوباورنئ دےپکـــــار

عدل،انصاف،حق اوقانون دي تش لفظونـه پاتـه
پـــــه غـځوغـځوکتابونوباورنـــــئ دےپکـــــار

هره لمحه دي وي ژوندون،هره لمحه دي مرګ وي
اې وختــه! ســتا پــه ســاعتونوباورنئ دےپکــار

مخلص، بې باک، نډر، بې لوث او دوطن خدمتګار
دهرد بـــوال پـــه دې ليکونوباورنـــۀ دےپکـــار

ستادښې ورځې خواهې نشته تبسّمه! هيڅوک
دخودغرضـو پـــه غوښـــتونو باورنـــۀ دےپکـــار

بورے
۰۸مئ ۱۹۹۲

يو شعر

يُـــــود پرون خلـــک د ســـباهم بـــصيرت لـــرو
ځکـــه خولـــه وختـــه ســره نـــن هـــم عـــداوت لـــرو

ترخوبــه داعجبــه غونــدي زنــدګي تېــروم
داستاله لاسه پاتــه ژوندۀ برپــه خواري تېروم

ماپــه تکــل دمينــي نيمــه زنــدګي تېــره کــړه
اوس نوري شپې په انتظار بــه دمرګي تېروم

راپېښنه ماتــه شوه باداره دغــه ځنګه خواري
چي په خپل لاس چړې دغم په خپل زړګي تېروم

څومره سپين زړےيم،ده زمادعقيدت انتها
بختــه داعمربــه دچــا پــه بنــدګي تېــروم

چې نيم اوروا خلې اونيم سوځې نهٔ، زهٔ هم دغسې
دغم په اورکې وخت په شان دلُوندلړګي تېروم

تهٔ ماکړه اوښکه له بانه مې پرباړخوراتوئ کړه
زهٔ څـولمحې داستاپرښـکلي اننګـي تېـروم

ډکـه شـوه زياتـه تبسّمه! پيمانـه د صـبر
ترڅوبه ژوندپه دې سماج کې په تنګي تېروم

بورے
۱۹اپريل ۱۹۹۱ء

○

زما او ستا تر میان یاره! بېلتون له ډېره وخته دے
زما له تا سره دغه تړون له ډېره وخته دے

ورځ هم لکه شپه پر ما تېرېږي له تیاروه که
ما ته انتظار د سباوؤن له ډېره وخته دے

بیا یې خوشحالیاني زمونږ د ښار خاوري ایرې کړلې
دلته چاپالله داجنون له ډېره وخته دے

چا چي به هر وخت تُوره تړله د افغان په ننګ
دلته ضرورت دآ* پښتون له ډېره وخته دے

زمونږ خلګو په زړپسي بائيللي خوشحالياني دي
دا څُوئ يې خپل کړے دقارو ن له ډېره وخته د ے

ماهم باچهي په دنياکړې بې حسابه ده
ماهم خپل سر اېښے پر ځنګو ن له ډېره وخته د ے*

زۀ له ځان سره مينه، ښائست او تبسّم ساتم
ځکه مي په ښنګ کي خوږژوندو ن له ډېره وخته
د ے

کوټه
٤٠ مارچ ٢٠٠٤ء

* أ - هغه
* په تصورمي ځان باچاکړو
سرمي راپورته کړو ملنګ ددنياومه

O

لیــري ســره اوســودتړون پــه نــوم
ژونــدکوؤدنوي ســباوؤن پــه نــوم

تېروخت یادوي اوس دپرون په نوم
څه نه کېږي دلته د بدلون په نوم

ویــې کړلــې لــوبي پــه ســرونوزموږ
څــه کــې ؤبللــي دژونــدون پــه نــوم

څوبه اضطراب راتـه تسکین ښائي
څوبــه خطاوځودســکون پــه نــوم

یو خوئ چي یې هم د پښتون نه درلود
نن هغه یاديږي د پښتون په نوم

څه عجب سخیان خلګ مي ولیدو
مرګ چي یې وبښلو دژوندون په نوم

کوټه
۲۷مئ۱۹۹۲ء

دوه شعرونه

سپوږمۍ په سترګو کي کړم پټه، پرېوځم
ولي تیارې د شپې په خوب وینمه

ما شیش محل دے په نظر کي اینښے
په ځان کي ځنګه لېونتوب وینمه

O

زړۀ کې مې دیار واړه غمونه خوندي کړي دي
ماخو په خپل ځان کې وسعتو نه خوندي کړي
دي

خپل وجود مې ستاد تګه پس په لاري خورکړلو
تۀ خورانه ولاړې، مادي پلو نه خوندي کړي دي

موږ د مځکي خلک یُو، په خاوروېُو مېن ځکه
موږپه خپله مځکه بنیادو نه خوندي کړي دي

بیابه له خزان سره په جنګ کې حوصله راکړي
ماپه دغه نیت یَوڅو ګلو نه خوندي کړي دي

ښــه دي د حالا تولــه ســتمه څخــه ليــري دي
زموږ د کلي خلکو خپل خوبو نه خوندي کړي دي

بيا پــه ټــول وطــن تورو تيــارو ځُلــئ لګــولې ده
څو خلکو و ځـان تـه څراغـو نـه خونـدي کـړي دي

شــرط ترشــهزادۍ د رسېد و تبــسّم وانــه ري*
زموږ د با چـالُو رنو رهم سـرو نـه خونـدي کـړي دي

کوټه
۱۶اپريل ۲۰۰۱ء

*وانه ري = وَنه هاري،وَنه بائيلي

○

وجودمي خورشو ،لاخورېږي،اوس له حده وزم
لکــه ســايه دمــا ئيګر لــه خپلــه قــده وزم

وابــه غونــدم دمينــي واړه ښائــسته رنګونــه
زۀ دنفــرت اوبــدرنګۍ لــه خــال وخــده وزم

دخپـل منـزل پـه خواپـه دې بانـدي مـزل کومـه
پـه حقيقـت کـي دامکـان لـه دې سـرحده وزم

له سپېروخاوروسره مامينه پرې اېښې نه ده
نوبيابــه ثلــه زۀ دخپــل مــدار لــه حــده وزم

دجهان ټولي توري بدې کړم په ځان کي ټولي
دلمــر پــه رنګــه دتيــارو لــه هــره زده وزم

شايددخپل ذات دتکميل پرخواروان يمه زۀ
شــوم تبــسّم دښــوملګرے ،ترابــده* وزم

کوټه
۱۷جولائي ۲۰۰۱ء

*ترابده = زياته

O

سفرکوم دفکر شپه ورځ ترفطرته پوري
رسېدۀ غواړم دښکلا ترحقیقته پوري

ماخوکاروان ؤ روان کړے، په دې نه وم خبر
خلک ببلېدل، ملګري ول، ترضرورته پوري

دخپل بېرغ ددرولوځائ مونه کړو پېدا
عمرمولنډ شو، نه رسېږو تر، وحدته پوري

فکرونه وران شو، ښه خیالونه هم بې قدره شولو
ادب محدود شو ادیب تر شخصیّته پوري

داتبسّم چې له هرښکلي سره مینه کوي
رسېدۀ غواړي دښکلا ترحقیقته پوري
بورے

۱۹۹۹ء

O

دتول ښار خلک را ټول دي، دبلا خلاف جنګېږي
له پرونه يې زۀ وينم، دسبا خلاف جنګېږي

دا ساده خلک روان دي، د تيارو ملګري کېږي
يو لښکر ځني جوړېږي، د رڼا خلاف جنګېږي

حوصله ورکړې تۀ خدايه! کاميابي يې په نصيب کړې
ځوروښانه ځراغونه د هوا خلاف جنګېږي

ورته ګورئ يَو بل وژني، سره خپل دي خو خپل وژني
خپل ښائسته کور يې برباد کړئ دا د چا خلاف جنګېږي

اوس که ګټه وي که زيان وي، وانجام ته يې نه ګوري
بــدرنګي دزمــانې نــن د ښــکلا خلاف جنګېــږي

لــه اوړو څخــه محرومه، لــه اوبــو څخــه محرومــه
داويــدۀ خلــګ بــه کلــه د باچــا خلاف جنګېــږي

پــه شعرونو، په ليکونـو انقلاب راوستل غـواړي
تبــسّم هــم لېــونــے دے ددنيــا خلاف جنګېــږي

يونيورسټي هاسټل
کوټه
۰٤ مئ ۱۹۹۷ء

O

دخوشحالۍ دخپلولوهوا نه لرمه
عجب سړے یم دخندلوهوا نه لرمه

زۀ لادمځکي له حالاتومطمئين نه يمه
زۀ وسپوږمۍ ته دختلوهوا نه لرمه

دکوټي ښارکه هرڅوښکلےدے، بې تاويران
دے
زۀ دلته نورداوسېدلوهوا نه لرمه

زۀ دفطرت هره ذرّه کي دښکلالټون کړم
له خوارۀ خياله دوتلوهوا نه لرمه

اوس زمـا وجود هم د تيـارو يَو برخـه وګرځېـدو
ځکــــه دلمردرا ختلو هــــوا نــــه لرمــــه

زړۀ مي راډک شي، اوښکي لارغوا ړي خو بيا هم ګوره
لــــه يــــوۀ عمــــره د ژړلو هــــوا نــــه لرمــــه

زمادننــــه تبــــسّمه! يَو جهــــان آبــــاد دے
ځکــــه لــــه ځانــــه دوتلو هــــوا نــــه لرمــــه

يونيورسټي هاسټل
کوټه
۲۷ جولائي ۱۹۹۶ء

لمراو سحر

په نیمه لاربه مې
یو اځي پرېږدي
یقین دورځي
په لمر څنګه وکړم؟
ماته دشپې ستاضرورت دے لمره!
ستاانتظار........
ترسحر څنګه وکړم؟

بورے
۱۵اګست ۲۰۰۱ء

جد و جهد

زموږ په بنیاد کې ده رڼا اخښلې
ځکه موکله هم تیاروته ځان ورکړےنه دے
نن که په موږباندې
تیارې دې زوروري غوندې
بیاموهم غړې اچولې نه دي
نورکه څه نه وي
دیَوۀ څراغ رڼا خوروؤ
وګوره چاد خپلوزلفو
دتارونوپلیتې راوړلې
څوک په پیاله کې دخپل زړۀ وینې
راوړي او راځي
هریو لګیادے ترخپل وسه پورې
چې بس دایَوڅراغ خوبل وَساتي

کوټه
۱۶اګست۲۰۰۱ء

چې کوېرا ته

تاچې په کومه لاره
سروَبائيلو
په هغه لاره تَګ اسانه دے ډېر
ددې د پاره بس
يو شرط دے لازم
چې سړےووځي له خپل ځانه
په جهان خورشي

له بوري ترکوټي په لاره
۱۵ اګست ۲۰۰۱ء

کوټه

(لسم محرم ۱٤۲۵ هجري)

کورتــه مــي اوروا چولو ، ځکــه لمبــې پورتــه شــوې
بيامي له داخپل وجوده، خاؤري ايـرې پورتـه شـوې

څورلس سوه کاله پس په ماکي شو يزيدراويښ
ځکه مي دخپل حُسېن له دړده نارې پورتـه شـوې

بيـامي کـړولاسـونه نـن پـه خپلووينوبانـدي سـرۀ
ځکه مي نن بيا پنځه څلوېښت جنـازې پورتـه شـوې

کوټه
۰۲مارچ ۲۰۰٤ء

کربلا ۲۰۰۴ء

نوم دي یادېږي په تاریخ کي په ښوتکو باندي
تا په نړۍ کي د عظمت یَولوئ مقام موندلے
کربلا! ما هم دا ستا خاؤره مقدس ګڼله
ځکه چي حق دا ستا پر خاؤره ۇدوام موندلے

خود تاریخ پاڼو وَماته دا هم وښوۇ چي
ستا ودې خاؤري ته عظمت د حُسېن ویني ورکړو
هم ستا په دې خاوره څه څوَرلس سَوه کاله وړاندي
حق او ربښتیا ته تقویّت د حُسېن ویني ورکړو

خو څوَرلس سَوه کاله پس، نن هم په دغه خاؤره
ډېر بد نونه د حُسېن تېوتې تېوتې پراته دي
ستا په کوڅو او ستا په په لاروکي نن بیا یو واري
ډېر ارمانونه د حُسېن خاوري ایرې پراته دي

نن بيا يزيد ستا په دې خاؤره سر را پورته کړلو
بيا يې په ډېرو حُسېني سرونولوبي وکړې
بيا ډېرو خلکو ديزيد شکل اوقدواغوستو
بيا يې په ډېرو حُسېني سرونولوبي وکړې

کوټه
۰۲مارچ۲۰۰۴ء
۱۰م محرم۱۴۲۵هجري

O

مورږچي ویشتلو همېشه دلته په سنګ ګلونه
ځکه په دې هیوادکي نه کوي غورځنګ ګلونه

پېل دسپرلي چي په دې ښارکي په سرووینووشو
سربه یواځي وَتوکېږي د سرهٔ رنګ ګلونه

ډېرباررودونه زمورږپرمځکه باندي واورېدو
ځکه اخته دي له یوبل سره په جنګ ګلونه

اوس مي هم روح محسوسوي،زمورږدوصال خوندونه
سره هوا ،وره خندا ،دبنګروشرنګ،ګلونه

زمــــادخزان ســـــره ســــيالي ترآخـــري عمــــره ده
ځکــه خونــۀ کرمــه اوس زۀ پرخپــل ثنــګ ګلونــه

ډوکــال د مځکــي او اســمان تـولي اوبــۀ وخــښلې
زموږلــه هيوادڅخــه يــې ورک کړلــو پتنــګ، ګلونــه

اوس بــه لــه کومــه ځايــه ستازلفوته راوړي ګــلاب
پرکوڅوغـــــواړي، تبـــسّم لکـــــه ملنګ، ګلونـــــه

کوټه
۰۷مارچ ۲۰۰۴ء

○

ځانګړتیا نه بائیلم، خپل ځان له سمندره ګورم
ځکه خو واؤره وجودزۀ له تاؤدۀ لمره ګورم

سېږاشنۀ شوي دي ماران له هریوبُوټي سره
که مي دایادؤ، بیابه هرتُخم له برّه ګورم

په سینه باندي مادي وړي بې حسابه غشي
اوس به دکاڼي رنګ ګلونه هم له سَره ګورم

که ټول ښائست پرماراووري، څه خبره نه ده
څله به ښکلي خلک زۀ ،دزړۀ له دره ګورم

په ورځ دي نه کومه لمره! رڼا ډېره لرم
زۀ به ستالاره دلته پس له مائيګره ګورم

نۀ غواړم زۀ، چې ښائسته خوبونه بيا وينم
ځکه خوځان د ښکلو سترګو له اثره ګورم

په دغه ورانې دنياباندې با چهې نه کوم
ځکه خوسر زۀ د هُما له هروَزره ګورم

کوټه
۱۴جنوري ۲۰۰۳ء

○

(دګل شاه خوستي نذر)

دا خوشحالي، خندا به هم تېره شي
دغه د غم سزا به هم تېره شي

له اوښکو ډکه د هجران دغه شپه
که خدائ کول، تنها به هم تېره شي

مه کړه ظلمونه په خوارانو باندي
دا تصویر ښکلا به هم تېره شي

ما د خپل زړهٔ ځراغ په وینه بل کړو
ومي کړئ خیال، رڼا به هم تېره شي

لــه غمــه ډكــه دا بــاقي ژنــدګي
كه تېرېده، بې تا به هم تېره شي

زما پــه ساده زړګـي ځپـه ستادغم
" تېره شوه نن سبا به هم تېره شي"

آخــري شــپه د تبــسّم دژونــدون
اوس پــه ژړاژړا بــه هــم تېــره شــي

بورے
۱۴ستمبر۱۹۹۰ء

O

بې سترګو خلک یُو ،وخپل نظر ته نه رسېږو
اسمان ته لاړو خود مزکي سر ته نه رسېږو

موږ د رشتو په لار مزل کوؤ له عمره څخه
روان له سترګو شو ،بیا هم ځیګر ته نه رسېږو

تتي ډیوې په لاس کي واخلو ،ټوله شپه تکل کړو
په رڼاګانو یُو مین خولمر ته نه رسېږو

ته ښه بې غمه خپل غمونه زموږ وزړو ته راوړه
د کائِنات رنګه وسیع یُو ،سر ته نه رسېږو

څوک به موغم وخوري ،ترچابه موحال ورسېږي
په ځان کي اوسو ،ځکه لراوبر ته نه رسېږو

موږ چي غوټۍ وکړو ،بلې راباندي واورېږي
بدبختهٔ درختي یُو ،ترپایه بر ته نه رسېږو

کوټه
ستمبر۱۹۹۹ء

O

غرونـــه کـــه هـــر ښوورســـېږي ترفلَکـــه پـــوري
خوبُنيادونـه يـې لـه عمـره دي پـه مځکـه پـوري

ښلـه دي زۀ دخپـل ښائـست لـه جنـت وا يـستمه
ما پـــه غـــنم بانـــدي وه کړې، کلـــه ښکـــه پـــوري

مـورېې ساتلي همېشه تـش پـه خوبونـوکي يُـو
کلـــه بـــه ورســـېږو موږتربختنه ورکـــه پـــوري

راځـــئ پخپلـــه ومنـــزل تـــه خپلـــه لارو تـــاکو
خبربـــه ورکـــه شـــي کـــه ولاړه ترملکـــه پـــوري

الـــوتي يُو، پريـــوځ ګـــام لا لـــه خـــلا پاتـــه يُـــو
تراوســـه پـــوري لا ترلـــي يُوپـــه مځکـــه پـــوري

ترسپوږمۍ سپيني خُلې دي هم زما وجود روڼ نه کړلو
مادرڼا په نيت په ځان کړه اوربلکه پوري

هرچاترخپل وسه پښتوژبه پرمخ وړې ده
له تبسّمه بيا ترستر خوشحال ختټکه پوري

کوټه
۰٤ اګست ۲۰۰۱ء

o

لاهغسي دے ویران له ډېره وخته
ودان نه شودا ،مکان له ډېره وخته

هره پانه زۀ لیکمه لاتراوسه
ورکوم یوامتحان له ډېره وخته

بیاهم خپل منزل ته نه دے رسېدلے
یوکاروان چي دےروان له ډېره وخته

زۀ به تاله خوشحالي لټوم څنګه
له ماخواره ورک دے ځان له ډېره وخته

دغه څه رنګه دُنیاده، نۀ پوهېږم
پکي نۀ ښکاري انسان له ډېره وخته

چې يونوے لمر د مينې شي راپورته
زۀ لرمــه دا ارمــان لــه ډېـره وختــه

دغمونو پـــــــــه وريځو تبـــــــــسّمه!
له ماپټ دے شين اسمان له ډېره وخته

بورے
۲۹فروري ۱۹۹۲ء

○

له ځان سره سره ټول عمرخپل مکان ګرځوؤ
مځکه ترپښولاندي ساتو،په سراسمان ګرځوؤ

موږلــه دننـه تنهــائي څخــه وېرېږوځکــه
له ځان سره په څنګ کي دشت اوبیابان ګرځوؤ

ستاعبادت ته فراغت نه شو موندلے خدایه!
موږپه سینوکي،په لېموکي خپل جانان ګرځوؤ

پـه څـه بانـه بـه درتـه وژاړو،ساه تنګي شولو
موږپــه لېمـوکي لــه عمروعمروبـاران ګرځـوؤ

موږدښـکلا پـه کاروبـارکي رعایـت نـه کـوؤ
سترګي په پوركي نیسو،زړونه په تاوان ګرځوؤ

پـه دې نـیلام کـي بـه مـو بیـه تبـسّمه! څـه وي
لکـه یوسف پـه بازارونوبانـدي ځـان ګرځـوؤ

کوټه
۲۷مارچ۲۰۰۲ء

O

ثلــه کــوي دردمنــه ثلــه کــوي
ګیلــې لــه ماغمجنــه ثلــه کــوي

چې دراتلـوي هـيڅ اُميدنـه لـرې
دداسـي وخت غوښتنه ثله کـوي

څه نيمګړتياوي به ضروروي، منم
تـﺋ مـي يَـومخ غندنـه ثلـه کـوي

چې يې ظلمونه کول، خاؤري شـولو
تــه دهغــو پوښــتنه ثلــه کــوي

وماتــه وائــي دلاروركـو پـه بـاب
دوئ تــه دلارښــودنه ثلــه کــوي

تاتــه پکارده دظـالم مــخ نیــوے
تــهٔ ددشــمن ســتاینه ثلــه کــوې

دتبــسّم پــه دې غمګینــه ثهــره
دخوشــحالۍ کتنــه ثلــه کــوې

بورے
۳۱مارچ ۱۹۹۲

O

څلــه ناکــام پــه هــره لار يُــودواړه
ترڅوبــه يــاره! داسـي خـوار يُـودواړه

ژوند پــه تيــاروکي تېرؤو موږڅلــه؟
پــه انتظــارد کوم ســهار يُــودواړه

ژونده! پـه موږکي څه خامي پاتـه ده
مــوږد عظيم فنکارشــهکار يُــودواړه

هيڅوک مـوهم خوشحاله نـه وليـدو
موږګرځېـدلي ښــارپه ښــار يُــودواړه

ضــميره! مااوتابــه ســپينه کــوؤ
ياخوبــه يُويابــه پــه دار يُــودواړه

دتبســّم قلمــه ! حــق چــي ليکــي
ځکــه ملګــري دهــر خــوار يُــودواړه

بورے

۲۳مارچ ۱۹۹۲ء

○

نـــه بـــه د رځــم پـــه د غـــه لار ګرســـره*
پـــرې بــه ږدم، ســتا کلـے او ښار ګرســره

ستا د را تلو اُمید و ســـــــــــتړے کړمه
نـــــه بـــه کـــوم نور انتظار ګرســــره

دا توري شپې څو مره اوږدې شوې ربّه!
لـــــه مـــــوږه هېرشو لو سها ر ګرســــره

لــه خپــل مقــصده بــه زهٔ نــه اوړمــه
را تـــالوې کـــه مـــي پـــه دار ګرســـره

چـــي د بـــې وســـوژړانه وررســـي
پـــرې بـــه ږدم زهٔ هغـــه دربار ګرســـره

یزیــــد یت بــــه بیــــا هم وَنــــه مــــنم
که مي سرپرې کړي په وارو ارګرسره

ماتبــسّم بــه تیــارې څــه کــولې
خونــه رائــي دلتــه سهارګرســـره

بورے
۱۰جون ۱۹۹۲ء

* ګرسره - هړو، بالکل

O

زموږ له سينو څخه، زموږ ز ړونه، ښکلې غل و باسي
موږ چې ور رسو ،دوئ لـه کلي څخه پـل و باسي

موږ چې ګمان پر ي دلمرخويه کړو ،هم هغه خلک
تيـاري راپرېږدي، څراغونـه ټولـه بـل و باسـي

بيابـه کـسات دهريـودرد ، .لـه هرازغـي اخلمـه
يووارکه څوک زموږلـه مابېنه څخه ګل وباسي

شايد چې موږلـه خپـل کاروانه بېلوي، ځکه خو
مـخ تـه روان خلـک هـرڅلـې دمـزل و باسـي

چـي کلـه کلـه مخـامخ شـي تبـسّم وغـم تـه
پرېـدي راوبـولي وزرۀ ته، ټولـه خپـل و باسـي

کوټه
۱۲جون ۲۰۰۲ء

○

چې ښائسته ګورې نو سپوږمۍ هم له جانان سره
ږدي
عجبه خلګ دي چې مځکه له اسمان سره ږدي

ما چې دلمرپل را اخیستې دے، بس دا ګورمه
چې کوم ظالم دلمر ړنګ د شپې له ځان سره ږدي

چې یې کړو لیرې مو ږله خپلو، په فتوؤ د کفر
اوس هغه خلګ با چهې له خپل ایمان سره ږدي

خپل د ږوالونه هره شپه له ځان سره ویدۀ کړم
خدائ خبر څوک یې هر سهار د بل مکان سره
ږدي

څوک به آخر سره یو ځائ کړي دا خوارۀ وګړي
دیو کېدو شرط چې یې خلګ له کاروان سره ږدي

وردېــده د ســـپرلي ربلـــۀ تبـــسّمه پـــه مـــوږ
وائي چي سږبه خپل ګلونه له خزان سره ږدي

کوټه
۰۷ اپريل ۲۰۰۳ء

يولسم ستمبر - په يورپ کي

ماته په دې ورځ دلته
خپل ځان محفوظ نه ښکاري
ولي چي يَو خو مسلمان يمه زهٔ
او بل افغان يمه زهٔ
بيا په ځواني کي هم يم
ځکه په داسي حال کي
دهرسپين پوستي
چي په ما کله نظر ولګي
که څه هم کرکه يې په سترګو کي
زهٔ نه وينمه
خوزهٔ په ځان کي شم څه غلے غوندي
په خپل ګربوان کي لږ په ځيرو ګورم
ځان ته په ځيرو ګورم
چرته خوزهٔ ترهه ګر نه ښکاريږم؟

ټيورن - اټلي
۱۱ ستمبر ۲۰۰۳ء

ګلوبلائزېشن

وائي دنيا ده اوس د کلي په شان
هريو هيواد د دلته د کور غوندي دے
هريو وګړے د بل ورور غوندي دے
خوزۀ ربښتيا که درته ووايمه
بې شکه دې کلي کي هر څه ډېر دي
خو د خپلوي چرته درک نه ښکاري
د ميني هم څه سلسله نه وينم
د نړيوالو په دې لوئ کلي کي
پېژند ګلوي د هر چا ګډه وډه
هريو ږغېږي اوس په بله ژبه
هيڅوک حال نه لري په خپل څنګلوري
بې شکه پراخ دي څلوروا ړه لوري

تېورن۔ اټلي
۲۲ ستمبر ۲۰۰۳ء

و یورپ ته یوهٔ وینا

ستا پرمختګ ته زهٔ اریان نه یمه
ستا ترقۍ ته پرېشان نه یمه
نه وارخطا دي بازارونو ته یم
نه چُرتو وړے دي وغټو بلډنګونو ته یم
نه دي خوشحاله په دې پراخو سړکونو یمه
نه له ما ځان ورک
ستا په ښکلو رنګینیو کي دے
ولي چي زهٔ په حقیقت خبریم
ستا د پنځه سوه کلونو وړاندي
په ذهانت او په محنت خبریم
تا په داخپل لوئ ذهانت او محنت
دافریقه غرونه لاولوټلو
په دې دنیا دي قیامتونه جوړ کړو
په جنوبي امریکا یانو باندي
دا ښشیایو کونج نه پرېښوؤ
زر دي لوټلو ، په دولت پسې وې
ځکه خوزهٔ درته په ډاګه وایم

تاترقي زموږپه سر کړې ده
دتاريخ پاڼې دي له ظلمه ډکي
تاباچهي زموږپه سرکړې ده
ځکه خوستاله سرکونوڅخه
دافريقې دوينوبوئ راوزي
ستاله دې غټوبلډنګونوڅخه
دجنوبي امريکايانو
اسوېلۍ راوزي
ستاله رنګينوبازارونوڅخه
دابشياکربڑي ،سلګۍ راوزي

نيس ـ فرانس
۰٤اکتوبر۲۰۰۳ء

په مځکه جنت

ماخو جنت کله
په خوب لاهم ليدلے نه دے
نو بيا په دې باندې ښه نه يم خبر
چې هلته څه دي او ښائست يې څه دے؟
هلته دي غرونه که ښائسته رغونه؟
يا بيا تک شنۀ سمندرونه؟
که دشاتو او شودو رودونه؟
نه يم خبر چې جنت څنګه ځاى دے؟
ولې چې زۀ په دغه مځکه باندې
څه دجنت رنګه يو ځائ وينمه
دلته له کاڼو هم دي بوټي وَتي
خوره ده شنه شنېزه په غرونو باندې
دلته اسمان دے

څه راکښته غوندي،
په سمندرکي خپل شين رنګ پاشلے
دلته يوې خواته خورهورسمندر
وبلې خواته جګ،اوچت،لوی غرونه
په ميان کې ګرځي
يوڅوزماغوندي ساده انسانان
او بې شماره حُوري

مونټې کارلو ـ مناکو
۰۵اکتوبر۲۰۰۳ء

ملګري ملتونه

مائیک*چي له ډانس فلوره راستون شو
زما په څنګ کي په چوکۍ کښېناستو
له خپله جېبه يې ټشوپېپرراوايستو
دخپل تندي خوله يې وچه کړه پرې
يوسوړ له درد ډک اسوېلے يې و کړو
بيايې وماته و کتل،ګويان شو
"زمافلسطين له توروبدوډک دے
هره کوڅه مي له بارودوډکه
هره وياله مي له سرووينوډکه
زندګي هلته ده ارزانه غوندي
خودلته موږپه ټنګ ټکورکي لمانځو
ورځ دملګروملتونون بيا
چي هره ورځ دامن غونډي کوي
خبره کړي دمظلومانودحق

چارټرلري د انسانانو د حق
خويې عمل چرته هم نه ښکاريږي"
د مائيک آواز شوږ ږغونے غوندي
اوښکي ددۀ په ښو وبريښيدې
هم په هغه ګهړۍ رنګينه رڼا
زياته شوه وپړقيده
د موسيقي ږغ هم څه نور پورته شو
د مائيک ژړغونے ږغ چانۀ واوريدو
ددۀو اوښکو ته چا نۀ وکتل
هريو مدهوشه په نڅا اخته ؤ
"عظيمه" ورځ يې د تاريخ لمانځله
زۀ د ملګرو ملتونو ودې دوۀ څهروته
ددې خبرو او عمل تضاد ته
فکرونو يوړمه له ځانه ليري

تيورن- اټلي
۲٤اکتوبر۲۰۰۳ء

*مائيک- په اټلي کي زما ملګرے چي د فلسطين اوسيدونکےؤ

په اټلي کې د څه وخت تېرولو پس
یَو نظمیه تأثر

ما چې په کومه ورځ
په دې خاوره قدم اېښے دے
تراوسه پورې له دې خاورې سره
هیڅ اُنسیت مې پېدا شوے نه دے
خپلوی مې هیڅ محسوسه کړې نه ده
مینه مې هم چرته موندلې نه ده

- -

زۀ خو وګړے یم د هغه خاؤرې
چرته چې مینه بې حسابه کېږي
هرڅه پېئلي د رشتو په تار دي
خپلوي بې کچه د خپلوانو ډېره
مرکز د مینې چې خپل مورو پلار دي

- -

خودلته زۀ ټينګي رشتې نه وينم
له ميني ډکي فرشتې نه وينم
دلته سپين سري مېندي وينمه
ويجاړي غوندي
دلته پلرونه هم بې وسه وينم
زويان اولُوڼي يې بد مستي وينم
چي نه دموراونه دپلارپه خيال دي
ځکه خويوتربله دوئ بدحال دي

- - - - - - - - - - - - - - - - - - - -

زۀ دادميني مركز دلته
ډېركمزوره وينم
ماچي كتلي دي په ځير
هرځل ددوئ سترګوكي
زۀ بې وسي، ناهيله ورځ اوتنهائي وېنمه
زۀ يې په سترګوكي ارمانډېردخپلوي وينمه
تنده دميني،خواخوږي وينمه

- - - - - - - - - - - - - - - - - - - -

داڅنګه خاوره ده،ګلونه دخپلوي نه لري

ځنګه بيا ځان زۀ په دا خاوره ګڼړم
چې د دې خاورې خپل وګړي لا د ځان د پاره
طلب د ميني کوي،
خپله خپلوي ته محتاج
ځکه خوزۀ لا اجنبي يم دلته
تر اوسه پورې له دې خاورې سره
هيڅ اُنسيت مې پيدا شوے نه دے

روم-اټلي
۱۴نومبر۲۰۰۳ء

ښېښنه څهره

هغه څهره
چي به وه تل په تصوّر کي زما
هغه څهره
چي په لېمو کي به مي ګرځوله
هغه څهره
چي ما په خپل زړۀ کي ساتلې وله
و ماته ناست دا مخامخ فنکار نن
د خپل ښائسته هُنر له لاري څخه
هغه څهره
راته تخليق کړله نن
له ښائستې،صفاا و سپيني ښېښې

(په اټلي کي دوېنس ښار سره نزدې
په يوټاپو مورانو کي، چرته چي
ښېښنه ګري کېږي)
۱۲اکتوبر۲۰۰۳ء

قدرِ مشترک

وائي چي نړۍ په دوؤ برخو وېشلې ده
يوهٔ شمالي او بله جنوبي نړۍ
هم په دې تقسيم کي
و شمال ته اوله نړۍ وائي
او جنوب د ريمه نړۍ ګڼل کېږي
ولي چي شمال شتمن دے
او جنوب نېستمن دے
خود شمال د شتمني او د جنوب د نېستي
دا تفريق هرځائ شته
هم په شمالي او هم په جنوبي نړۍ کي
ځکه خوزهٔ نن په شتمن شمال کي
يوه پرنېستمن جنوب هم وينم
د دې يوهٔ هيواد
شمال خوبېخي زيات شتمن دے
هم د دغه هيواد

جنوب د برزیات نښتمن دے
زۀ چي د جنوبي نړۍ وګړےيم
د شمال په دې جنوب کي
اجنبي نه ښکارم
ولي چي زما په جنوب
او دې جنوب کي
د نښتۍ قدر مشترک دے

نېپلز۔ اټلي
۱۲نومبر۲۰۰۳ء

The Dream Merchants

(دانګرېزي دیَونظم ترتأثرلاندي، په یوداسي
کېفیت کي چي زۀ یې هم یَوبرخه وم)

دپنځه ستورودرجې هوټل ته
ددې هیوادله هریوکونجه څخه
په الوتکوکي راورسېدو
یوڅوخواخوږي او زړۀ سوانده خلک
په دې ساړۀ هال کي چي غونډشي سره
دهریوه مخ ته په مېزوي پراته
کمپیوټرونه اوموبائل فونونه
پرمخامخ لویه پرده باندي دوئ
وړاندي کوي رنګین رنګین ګرافونه
دچق چقواودخندا په شورکي
کړي په غربت باندي اوږده بحثونه

- - - - - - - - - - - - - - - - -

چي دډوډۍ پرمېزراغونډشي سره
غابونه ډک کړي له رنګ رنګ خوړَکو
په ډلوډلوکي ولاړوي سره
خپلوخبروته دوام ورکوي

هره ګوله چې يې ترحلق تېرېږي
ذکر د تهر د ماشومانو کوي
دوږو تږو غريبانو کوي
چې د پېپسي غوړپ يې ترحلق تېرېږي
د بوري تنده ياد وي ورسره
لاس چې وروړي و رنګارنګ مېوؤته
درپدري بيادخاران ياد وي
محرومه ورځ د کوهستان ياد وي

په دې سرۀ دوبې په سرۀکوټۀ کې
هريو چې پرېوځي له ډک نسه سره
خاندي د ځان له هم نفسه سره
بياله خپل ځانه سره ورغېږي
"څومره خوبونه مې نن خرڅ کړو دبل
ډېرارمانونه مې نن خرڅ کړو دبل
د ترقۍ لوئ سوداګريمه زۀ
د غريبۍ لوئ کاريګر يمه زۀ"
بياسترګې پټې کړي خوبونه ويني
او په خوبونو کې نوټونه ويني

اسلام آباد
۲۸اګست ۲۰۰۴ء

ګلېډيئېټر*

بس ديوۀ اعزاز ګټلو په نيت
دخه دولت راغونډولو په نيت
دخپل طاقت ښکاره کولو په نيت
دباچهانو سات تېري دپاره
دڅوآقاؤدهوس له وجي
څومره مريانودلته سروَبائيلو
څومره سرې ويني دلته خاوري شولې
څومره خوبونودلته ساورکړله

په روم۔ اټلي کي کولوسيوم ته نزدې
۱۵نومبر ۲۰۰۳ء

*په رومن سلطنت کي به په کولوسيوم کي باچهانو او اميرانو مريان سره جنګول، جنګ ګټونکي مريي ته به د ګلېډيئېټر خطاب ورکول کېدو.

○

مینه که کوې، قدم په پام راپسي مه اخله
زما لاره که چپه ده نوګام راپسي مه اخله

لیري شوم له تاڅه مجبوریاني موپه میان کي وې
نوم که مي اوس اخلې نوالزام راپسي مه اخله

ماخوسپوږمۍ کښېښووۀ، دلمرډیوۀ مي بله کړه
اوس لاسهارګاه ده، تۀ ماښام راپسي مه اخله

زۀ شپېلۍ وَ همه په کوڅه کي دي تېرېږمه
خلګ دي، ټپې، تۀ له خپل بام راپسي مه اخله

زۀ په يو ښائست پسي اسمان ته رسېدلے يم
نه درځم په لاس، د زلفو دام را پسي مه اخله

ځمه نه درېږم، له رقيبه خپل بدل اخلم
ته رُوئ د قرآن، د لوئ کلام را پسي مه اخله

تۀ که تبسّمه! سازول غواړې دنيانوې
خپل ځان کړه تخليق، خيالونه خام را پسي مه اخله

کوټه
۲۹ مارچ ۲۰۰۴ء

رڼامي چالوټ کړه اوڅوک مي په زوال خبر دے
دبدبختيو په تيارومي ېو مشا ل خبر دے

له چا به پټ شي چي دلمرغوندي ځلېږي همېش
دلته هريوزُمادياربه خدوخال خبر دے

اوس به وتاته څه سندري د سپرلي وَوايم
زۀ خوازغي لانه لرم، په دې ډوکا ل خبر دے

مورچي لوظونه له يوبل سره کول دميني
په دې يوخدائ اويودا ستادزني خا ل خبر دے

لــه مــا دژونــد دزېروبم قــصــې تــهٔ ثلــه پوښــتې
وخــت خوزُمادهريودړدپــه سُــراوتا ل خبـرد ے

موږپـــښتانهٔ دي يـــودلارخنډتراوســـه پـــوري
ستاپه مغل سلوک دوخت هريوخوشحا ل خبرد ے

تبـــسّم ســـتاواړه نازونـــه پـــه خنداځکـــه وړي
له فراق ځان ګوري، په خوندچې دوصا ل خبرد ے

کوټه
۲۸مارچ۲۰۰٤ء

○

ترچنارونومي لړکم ايښې دې
قدمي له ځانه سره سم ايښې دې

په سهارګاه کې به ګلونه ګورم
ماپه بڼوکي يَوشبنم ايښې دې

پلونه مې وړي دي له ځانه سره
ماکه په دې خاؤره قدم ايښې دې

دالف رنګه زۀ خودسره نه يم
سرمي دواؤپه شاني خم ايښې دې

پرهرجـــوړیږي، دړدیې لازیـــاتیږي
مـاچي هرکلـه پـرې ملهـم ایـښـې دے

خوشحالي ولـي لیـري تـښتي دژوند
بنـسټ یـې ګوره چاپرغم ایـښـې دے

ترخپـل زړګـي پـوري زۀ وشـرنګیږم
ځـان مـي دشنوبنګړورَقم* ایـښـې دے

کوټه
۲۳اپریل ۲۰۰۴ء

*غوندي، رنګه،ډول

o

نه په یو رنګ کي اوسم، نه خپله څهره بدلوم
څنګه انسان یم چي له وخت سره جُثه بدلوم

د حُسین رنګه د هر ظلم مخ نیوے کومه
د یزید غوندي کربلا په هدیره بدلوم

زما په سینه کي کله کله د مور زړۀ درزیږي
داسي وخت هم راشي،اولادزۀ په پیسه بدلوم

پخپله روے‌شم اوهره شپه خپل ځان وبروم
ځکه خوهره ورځ سهارخپله کمره بدلوم

رښا هم غوارم، خوتیارې مې هم پرځان پيرزوشي
څه بدبختي مي ده چې لمر زهٔ په ډیوه بدلوم

په ملنګي کې کله کله عرش ته ور سېږم
کله قارون سم خپل هرڅه په خزانه بدلوم

په يوهٔ شکل کې آدم او ابليس دواړهٔ ښکارم
مخ بدلولے نشم، ځکه آئينه بدلوم

په حفاظت کې هم زهٔ ځان سلامت نه ګڼمه
د کورکَودي له منجاري څه په چاړه بدلوم

ځان چې باچا کړم نوله خلګو څخه ليري شمه
کله په خلګو کې د خپل حق هم ناره بدلوم

بدرجمالي ته نکلونه د توردېب کومه
وآدم خان ته د دُرخوبيا زهٔ قصه بدلوم

څه وخت دګل غوندي تازه او ښائسته ایسېږم
ځان بیا ترډېره له خزان سره سره بدلوم

کورته چي ننوځم،له ځانه شم دباندي پاته
چي وځم بیا دکلاهره دروازه بدلوم

چي زۀ آذرشمه،خدایان جوړکړم په خپلو لاسو
چي ابراهیم شم،بتخانه بیا په کعبه بدلوم

په ښائستوټپوکي زماله وجي خوند پېدا دے
هغه هم زۀ یمه چي غاړي په نوحه بدلوم

په یووجود کي په زرګاؤتضادونه لرم
څنګه انسان یم چي له وخت سره جُثه بدلوم

کوټه
۰۸جولائي ۲۰۰٤ء

O

ما پاللې د دنيا هم دښمني وه
له خپل ځانه سره زما هم دښمني وه

په يوه تړون دوه رنګه وو تړلي
چې ياري وه زما او ستا ، هم دښمني وه

په سپرلي کې هم خزان ته ور نږدې شوۀ
چې له ګل سره د چا هم دښمني وه

ما به څنګه مينه هر ځای خورولـه
را پرې ايښې چې بابا هم دښمني وه

چې به کومه شپه وصال لره ورتلمه
له سپوږمۍ سره به زما هم دښمني وه

مـا هغـه وخـت هـم ډيـوې بلـي سـاتلې
يـــادول چـــي د رڼـــا هـــم دښمنـــــي وه

ما د يار نوم له خپل ځان سره نـه اخستو
تبـــسمه! هلتــــه دا هـــم دښمنــــــي وه

بورے
۱۸ جون ۲۰۰۵ء

○

شپه ده پر څه خلګو لا تر اوسه هم
هره ورځ را خېږي په هر کور کي لمر

چا چي به د يوې راوړلې هره شپه
نن ئې رانه يوړلو په پور کي لمر

مونږ ته په هر حال کي رسوی رڼا
خپله تښوله ورځ اوسي په اور کي لمر

راسئ په تيارو کي لار در وښيم
ما ساتلې دے د سترګو تور کي لمر

يو واري په ځان کي کړه خوره رڼا
ښکاري به و تاته په هر لور کي لمر

پېښور
۰۲ جولائي ۲۰۰۵ء

O

ړوند دي شومه په دیدن پسي، نور غواړم
ځکه اوس له بله سترګي په پور غواړم

ستا ښائست د ځان کړم څنګه، نه پوهېږم
تا په ځان کي، زه د ځان رنګه خور غواړم

زما نعرې تر باچهانو نه رسېږي
اوس به خپل حق له هر چانه، په زور غواړم

زه وړه نړۍ د مینې سازومه
پېښور، کوټه، کابل، نه لاهور غواړم

د بهر لمبې ما کله سوځې نه شي
زه پناه د ځان دننه له اور غواړم

زه لــــه زيـــارو كاروبـــار نـــه جوړومـــه
پــه صــله كــي و بچيــانو تــه كــور غــواړم

تبـــسم بـــه پـــه امـــان لـــه هـــر آفـــت يـــم
را رســـېږي بـــه، دعـــاوي د مـــور غـــواړم

پېښور
۲۵ مئ ۲۰۰۵ء

O

په څو شېبو مې تر اسمانه يوسي
خيال چي دي راشي، ما له ځانه يوسي

يم په صحرا کي د پل غوندي پاته
څوك به مي بيا تر خپل کاروانه يوسي

روي مي نه پرېږدي، آزاد نه يمه
خلګ دي ما له دې مکانه يوسي

ډېر دي ساده، د ميني کلي خلګ
هره خبره زر تر خانه يوسي

زما د سپرلي ګلان تر زړه وختل
څوك به ازغي سر له خزانه يوسي

قاصد د وصل خبر نه راوړي، خو

زېــــرې د هجـــر تـــر جانانـــه يوســـي

تـــه چـــي خبرېـــږې، تبـــسم شـــعرونه
ســتا د ښائـست لـه ويـړ د ېوانـه يوسـي

بورے
۱۲ دسمبر ۲۰۰۵ء

دشاعر پېژندګلوي

نوم: محمدعارف

قلمي نوم: عارف تبسم

د پلار نوم: حاجي شيرافضل

ټاټوبئ: بورے، لورالائي

تعليم: ايم- اې انګرېزي ادبيات

ايم- اې بين الاقوامي تعلقات

درک: مکان 246- رحيم کالوني جېل روډ

هده – کوټه، سهېلي پښتونخوا

فون: 0333 - 7804824

اي مېل: ariftabassum@yahoo.com

چاپ کتابونه

١- ګلوبلائزېشن اورمادري زبانين (ترتيب)

٢-آزادی کی پهلی کرن (ترجمه)

٣- دلمرپل (هم دا مجموعه)

ناچاپ کتابونه

١- ادب، ژبه او ګلوبلائزېشن (دپښتومقالو مجموعه)

٢- جب کارپورېشنوں کی حکومت هوګي

(داردومقالو مجموعه)

Download from:aghalibrary.com